د افغانستان اسلامي جمهوریت
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست

# تجوید

## اووم ټولگی

د دیني مدارسو لپاره



د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ. ش.

تجوید - اووم ټولگی

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري، پېرودل او
پلورل يې منع دي.

curriculum@moe.gov.af

د افغانستان اسلامي جمهوریت
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست

# تجوید

## اووم ټولګی

(د دیني مدرسو لپاره)

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ ل

**مؤلف:**

- میر رفیع الله منیب

**ژباړه:**

عبدالهادي روان

**علمي ایډیټ**

- محمد آصف کوچی

**د ژبې ایډیټ**

- محمد قدوس زکو خېل د ښوونیز نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف په ریاست کې د پښتو څانګې علمي غړی.

**دیني، سیاسي او فرهنګي کمیټه:**

- دکتور شېر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې رئیس.
- محمد آصف کوچی

**اشراف**

- دکتور شېر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې رئیس.

بسم الله الرحمن الرحيم

بسم الله الرحمن الرحیم

## د پوهنې د وزیر پیغام

الحمدلله رب العالمین والصلوة والسلام علی نبیه و رسوله محمد و علی آله و اصحابه اجمعین اما بعد:

د پوهنې تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې د نظام بنسټ جوړوي او د هېواد د اوسنیو او راتلونکو نسلونو په علمي، فکري او سلوکي ودې او پراختیا کې بنسټیز او ارزښتمن رول لري.

تعلیمي نصاب باید د وخت په تېرېدو او د ژوندانه په بېلابېلو ډګرونو کې له بدلون او پرمختګ او د ټولنې له اړتیاوو سره سم هم د مضمون او محتوا او هم د معلوماتو د ورکړې د لارو چارو له مخې بدلون او پراختیا ومومي.

د تعلیمي نصاب په ډګر کې، چې د بیاکتلو لپاره ورته ډېره اړتیا موجوده ده، یو هم د اسلامي زده کړو نصاب دی؛ ځکه په اسلامي زده کړو کې عقاید او د اسلام د سپېڅلي دین احکام او لارښوونې شاملې دي، چې د انساني ژوند د ټولو اړخونو بشپړ نظام او قانون او د نړۍ د خالق او پروردګار د وروستني پیغام په توګه به د قیامت تر ورځې پورې د بشریت د لارښوونې دنده سرته رسوي.

د اسلامي امت عالمانو د تاریخ په اوږدو کې د اسلامي معارف، د اسلامي تعلیماتو د سیستم په رامنځته کولو، پراختیا او بډاینه او همدارنګه په ځانګړې توګه د اسلامي نړۍ د علمي مرکزونو او موسساتو د تعلیمي نصاب په تدریجي انکشاف کې خپله دنده سرته رسولې ده.

په اسلامي معارفو او اسلامي علومو کې دقیقه مطالعه دا خرګندوي چې زموږ د تعلیمي مدرسو او مرکزونو نصاب د ټولنې د اړتیاوو او د اسلام د دین له ثوابتو او طبیعت سره سم د ټولو انسانانو لپاره هر وخت او هر ځای پراختیا موندلې ده.

زموږ ګران هېواد افغانستان د علمي ځلند تاریخ په درلودلو سره یو وخت د علم او زده کړې یو لوی مرکز و چې د اسلامي لوی تمدن په جوړښت کې یې ستر رول درلود. د علم او فرهنګ په مختلفو ساحو او په ځانګړې توګه په شرعي علومو، لکه عقاید، تفسیر، حدیث، فقه او د فقهي اصولو کې د زرګونو پوهانو او عالمانو شتون زموږ ددې وینا پخلی کوي.

په اوسني عصر کې د اسلامي ښوونځي له ډېرېدو او لوړېدو سره سم زموږ په هېواد کې اسلامي تعلیماتو د خومره والي او څرنګوالي له مخې زیات بدلون موندلی او د هېواد کوچنیانو او ځوانانو په ډېره مینه او لیوالتیا د اسلامي زده کړو مرکزونو او مدرسو ته مخه کړې ده.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو د کیفي او کمي پراختیا او په هغې کې د اسلامي زده کړو نصاب په اړه د پام وړ ګامونه پورته کړي دي.

دې وزارت د هېواد د ډاډ وړ عالمانو، استادانو او نامتو ماهرینو ته بلنه ورکړې چې د تعلیمي نصاب لا ښه کولو ته متې ونغاړي او د ښې او زیاتې ګټې اخیستنې په موخه په اسلامي زده کړو کې د دود تعلیمي نصاب د موجودو مضمونونو او کتابونو له کمولو او زیاتولو پرته موجود کتابونه په درسي چوکاټ کې واچوي، متنونه یې لا واضح او خرګند کړي او د فعالیتونو، ارزونو او مناسبو تمرینونو په زیاتولو یې نور هم پسې بډای کړي.

هیله لرم چې د پوهنې وزارت دا کوچنی خدمت او د هېواد د عالمانو، پوهانو او ماهرانو د ستاینې وړ زیار د الله تعالی د منلو وړ او زموږ په ګران هېواد کې د اسلامي تعلیماتو په ودې او پراختیا کې ګټور شي.

وباالله توفیق

دکتور محمد میرویس بلخي

د پوهنې وزیر

## مقدمه

### درنو استادانو او گرانو زده کوونکو!

د قرآن کریم د تجوید زده کړه خورا ګټه وره او مهم علم دی؛ ځکه د قرآن کریم سم لوستل د الله تعالی امر دی او قرآن کریم سم لوستل پر قرآن کریم د پوهیدلو او پر هغه د عمل کولو لاره ده، د تجوید د قواعدو رعایتول د قرآن کریم په فهم کې اغېز لري، د حروفو سم اداء د مد او ساکن نون اړوند اصول او د وقف او وصل د ځایونو پېژندل د معانیو په افاده کې مستقیمه ونډه لري، لکه څرنګه چی د قرآن کریم په معانیو کې په تدبر او دهغه په احکامو باندې په عمل کولو اجر مرتبیږي، همدا ډول د قرآن کریم په سم تلاوت، الله تعالی مسلمان ته اجر ورکوي.

د تجوید په علم کې زیات کتابونه لیکل شوي چې هر یو یې خپلې ځانګړتیاوې لري، خو وروسته له دې چې پوهنې وزارت هوډ وکړ چې د هېواد مدارسو ته به نوی ښوونیز نصاب چمتو کوي، چې په هغه کې به اصالت او معاصرت دواړه په پام کی نیول شوي وي- معاصرت په دې توګه چې د ښوونیز نصاب د کتابونو په تألیف کې له معاصرو لارو چارو څخه کار واخیستل شي، مفردات یې د موضوعاتو تر منځ تسلسل ته په پام، له درسي پلان سره سم په لوستونو ووېشل شي، په هر درس کې د زده کوونکو فعالیت شتون ولري، ارزونه او کورنی دنده پکې راوړل شي او دا ټولې چارې د زده کوونکو علمي سویو او ذهني ودې ته په پام تر سره شي-.

د تجوید د اووم ټولګي دا کتاب د ښوونی نصاب د متخصصینو له خوا د علمي او تعلیمي معیارونو په رعایت تألیف شوی، له لوی الله ﷻ څخه دوی ته د پوره اجر غوښتونکي یو، الله ﷻ دې وکړي چې د قدرمنو استادانو د منلو وړ او د ګرانو زده کوونکو لپاره د ستړي علمي ګټې د کسبولو لامل وګرځي.

والله ولي التوفيق

# د موضوعاتو لړلیک


| شمېره | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | سریزه | ۱ |
| ۲ | د تجوید علم | ۲ |
| ۳ | لحن او د هغه اقسام | ۴ |
| ۴ | د قرآن کریم د لوستلو ظاهري آداب | ۸ |
| ۵ | د قرآن کریم د لوستلو باطني آداب | ۱۲ |
| ۶ | د ساکن نون او تنوین احکام | ۱۴ |
| ۷ | ادغـام | ۱۸ |
| ۸ | اقـــلاب | ۲۲ |
| ۹ | اخفاء | ۲۶ |
| ۱۰ | د ساکن میم احکام | ۳۰ |
| ۱۱ | د میم او مشدد نون احکام | ۳۴ |
| ۱۲ | د مدّ احکام(اصلي مد) | ۳۶ |
| ۱۳ | فرعی مـــدّ | ۴۰ |
| ۱۴ | لازم مد | ۴۴ |
| ۱۵ | د تورو مخرجونه | ۴۶ |
| ۱۶ | غاښونه | ۵۰ |
| ۱۷ | د ژبې مخرجونه | ۵۴ |

| شمېره | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱۸ | شفتان او خیشوم | ۶۰ |
| ۱۹ | د تلاوت ډولونه( تحقیق) | ۶۴ |
| ۲۰ | تدویر او تحدیر | ۶۸ |
| | د اووم ټولګي د حفظ د مقرري برخه | |
| ۲۱ | د الفجر سورة | ۷۴ |
| ۲۲ | د البلد سورة | ۷۵ |
| ۲۳ | د الشمس سورة | ۷۵ |
| ۲۴ | د اللیل سورة | ۷۶ |
| ۲۵ | د الضحی سورة | ۷۶ |
| ۲۶ | د الشرح سورة | ۷۷ |
| ۲۷ | د التین سورة | ۷۷ |
| ۲۸ | د العلق سورة | ۷۸ |
| ۲۹ | د القدر سورة | ۷۸ |
| ۳۰ | سورة البینة | ۷۹ |
| ۳۱ | سورة الزلزلة | ۷۹ |
| ۳۲ | سورة العادیات | ۸۰ |
| ۳۳ | سورة القارعة | ۸۰ |
| ۳۴ | سورة التکاثر | ۸۱ |
| ۳۵ | سورة العصر | ۸۱ |

| شمېره | سرليک | مخ |
|---|---|---|
| ۳۶ | سورة الهمزة | ۸۱ |
| ۳۷ | سورة الفيل | ۸۲ |
| ۳۸ | سورة قريش | ۸۲ |
| ۳۹ | سورة الماعون | ۸۲ |
| ۴۰ | سورة الكوثر | ۸۳ |
| ۴۱ | سورة الكافرون | ۸۳ |
| ۴۲ | سورة النصر | ۸۳ |
| ۴۳ | سورة المسد | ۸۴ |
| ۴۴ | سورة الإخلاص | ۸۴ |
| ۴۵ | سورة الفلق | ۸۴ |
| ۴۶ | سورة الناس | ۸۵ |

## سریزه

الحمد لله الذی نزّل القرآن للذّکر و یسّره، و الصلاة والسلام علی خیر البریّة محمّد عبده و رسوله القائل:«الَّذی یَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَهُوَ مَاهِرٌ بِهِ مَعَ السَّفَرَةِ الْکِرَامِ الْبَرَرَةِ»[1] و علی آله و أصحابه الّذین حفظوا القرآن و وعوه فی صدورهم المطهّرة.

د هر علم فضیلت او شرافت دهغه علم په موضوع پورې اړه لري، نوهر څومره چې دیو علم مقام موضوع مهمه او له لوړ مقام څخه برخمنه وي،په هماغه اندازه هغه علم له مهم او لوړ مقام څخه برخمن وي. څرنګه چې قرانکریم تر ټولو کتابونو لوړ او سپېڅلی کتاب او قرآني علوم هم تر ټولو ښه علوم دي، بې له شکه د تجوید علم له ډېرو ښو علومو څخه ګڼل کېږي، چې موضوع يې د قران کریم پاک او سپېڅلي حرفونه او کلمې دي.

پردې اساس ښايي هر طالب العلم دغه علم ته خپل ذهن او فکر ځیر کړي، د لوستلو لپاره يې همت وکړي اود خپل ژوند ښې شیبې ورته وقف کړي.

د تجوید په اړه پوهان پردې یوه خو له دي چې د قرانکریم تلاوت هغه شان چې په پیغمبرﷺ نازل شوی، فرض عین دی او هر ډول کمي او کیفي زیاتوالی او نیمګړتیا يې لویه ګناه کېږي.

تجوید په حقیقت کې د قران کریم لوستل دي چې خپله له رسول اللهﷺ څخه اخیستل شوی او د صحابه کرامو او تابعینو په وسیله وروستیو نسلوتو او بیاموږ ته را رسېدلی دی.

پر هر مسلمان لازم دي څرنګه چې پیغمبرﷺ صحابه وو ته قرآن تلاوت کړی او ښوولی، ولولي اوتلاوت کړي او دغه کار د تجوید د قواعدو په نه مراعاتولو سره ناشونی دي.

د تجوید دغه کتاب چې ددیني مدرسو د اووم ټولګي لپاره تألیف شوی، په دوو برخو وېشل کېږي. لومړی برخه يې د تجوید قواعد دي (نظري تجوید) د تېرو قواعدو (عملي تجوید) تطبیق، د تېر لوست پوښتنې او کورنۍ دنده ده.

دویمه برخه يې محفوظات دي چې ټاکل شوي سورتونه دي او ښاغلی ښوونکی دې هغه داسې تنظیم کړي چې د تعلیمي کال په اوږدو (څلورنیم میاشتنې او کلنۍ موده) کې درې مقررې برخه بشپړه شي.

تجوید په یوه اوونۍ کې دوه درسي ساعتونه لري چې په ټول کال کې ٥٦ ساعته کېږي. ښاغلی ښوونکي دې یو ساعت د قواعدو او نظري معلوماتو د پوهولو لپاره او بل ساعت دې د هماغو قواعدو د تطبیق او عملي کولو لپاره کار وکړي.

د یادولو وړده چې ددغه کتاب په لیکلو کې د تجوید له معتبر وکتابونو او له هغې جملې لاندې کتابونو څخه ګټه اخیستل شوې ده.

١ـ تجوید قرآن کریم / محمد قمحاوي

٢ـ الدرر الفرید شرح قواعد التجوید / شیخ عبدالحق دهلوي

٣ـ حلیة القرآن سطح (٢) / سید محسن موسوي یلده

٤ـ جمال القرآن / اشرف علی تهانوي

٥ـ معلم التجوید للمتعلم المستفید / قاري محمد شریف

په پای کې د لوی خدای ﷻ له درباره غواړم چې د قرآني علومو ټول استاذان اوبه تېره بیا د تجوید دعلم پوهان د حضرت محمد ﷺ د دغه حدیث (خیر کم من تعلم القران و علمه) مصداق وګرځوي.

میر رفیع الله منیب

---

١- ترمذی د حدیث شمیره( ١٤٥٦ ).

# د تجوید علم

## د تجوید تعریف

تجوید په لغت کې ښه اداکولو اوښایسته کولو ته وایي.

او په اصطلاح کې د حروفوسم اداکولو، دمخارجو پېژندلو او صفاتو او د وقف او وصل سم اداء کولوته تجوید وایي.

## د تجوید علم :

تجوید هغه علم دی چې د قواعدواو اصولوپه مراعاتولو سره یې قران کریم داسې لوستل کېږي لکه چې پر محمدﷺ نازل شوی و.

## د تجوید موضوع :

د قران کریم حروف او کلمات دي .

## د تجوید د علم موخه :

د قران کریم د حرفونو په اداکولو کې له خطا څخه د ژبې ساتنه ده او د قرآن کریم سم او ښکلی تلاوت دی.

## د تجوید د علم حکم:

د تجوید په قواعدو عمل کول ( د تجوید پر قواعدو د قران لوستل) پر هر مسلمان فرض عین دي، لکه چې الله تعالی امر کړی :

﴿وَرَتِّلِ الْقرآنَ تَرْتِيلا﴾[1] او زده کړه یې فرض کفایي ده اوبردې د امت اجماع شوې ده.

## د تجوید د علم ارزښت:

د قران کریم لفظ او معنا دواړو ته قرآن ویل کېږي، څرنگه چې پیغمبرﷺ صحابه کراموته د قران کریم معنا ورزده کړه، همداسې یې د لوستلوطریقه هم ور وښودله، باید قران کریم

---

۱- مزمل:۴ " او قرآن به غور او فکر کولو سره ولوله".

د پیغمبرﷺ له لارښوونې سره سم وویل شي، چې د تجوید د قواعدو په مراعاتولو سره کېدای شي، او د تجوید د قواعدو پر خلاف لوستلو ته د لحن (اشتباه) ویل کېږي.

## پوښتنې

۱ـ تجوید په لغت او اصطلاح کې تعریف کړئ ؟

۲ـ د تجوید علم له څه بحث کوي، واضح يې کړئ ؟

۳ـ د تجوید د قواعدو زده کړه او پر هغه عمل کول څه حکم لري؟

٤ـ د تجوید علم څه ارزښت لري؟ واضح يې کړئ.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د تجوید د ارزښت په اړه یوه مقاله ولیکي چې تر پنځو کرښو لږه نه وي او په بل درسي ساعت کې دې ټولګي ته راوړي.

دويم لوست

## لحن او د هغه اقسام

**لحن دوه ډوله دی** :

۱ـ جلي لحن

۲ـ خفي لحن

۱ـ جلي لحن:  چې غلطي يې ښکاره او څرګنده وي (تردې پورې چې عام خلک هم پرې پوهېدای شي) جلی لحن يا د آيت معنا ته بدلون ورکوي يا د کلمې جوړښت له منځه وړي.

**د جلي لحن ډولونه**:

جلي لحن پنځه ډوله دی:

۱ـ يو توري په بل توري وړي بدلول.

۲ـ د حروفو ډېرول.

۳ـ دحروفو کمول .

٤ـ له يوحرکت څخه بل ته د حرکت بدلول.

۵ـ سکون ته د حرکت بدلول او يا عکس (د سکون بدلول حرکت ته)

**۱ـ د يوحرف تبديلول**:

[ع] په همزه لوستل لکه ﴿عَلِيمُ﴾ په ﴿أَلِيمُ﴾ لوستل .

يا [ق] لوستل، لکه ﴿الْمُسْتَـقِيْمَ﴾ په ﴿الْمُسْتَكِيْمَ﴾ لوستل.

۲ـ د حرف کش کول، تر هغو پورې چې بل حرف ترينه پيداشي.

لکه په ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ﴾ کې د [دال] ضمه یا د [ها] کسره د مد اوکش په ډول لوستل چې له هغو حروفو څخه مد رامنځ ته شي ﴿الحمدُو لِلّهی﴾.

۳ـ دحروفو له منځه وړل پدې ډول چې کلمه ترې نیمګړې شي.

لکه په ﴿لَمْ يُولَدْ﴾ کې د [واو] نه ښکاره کول ﴿لَمْ يُلَدْ﴾ لوستل.

٤ـ یوحرکت په بل حرکت بدلول.

لکه په ﴿إِيَّاكَ﴾ کې د (کاف) فتحه په کسره سره بدلول ﴿إِيَّاكِ﴾ او یا په ﴿أَنْعَمْتَ﴾ کې د [تا] فتحه په ضمه بدلول ﴿أَنْعَمْتُ﴾ لوستل.

٥ـ په سکون سره د حرکت بدلول او یا په حرکت سره د سکون بدلول ، لکه په ﴿وَاجْعَلْنَا﴾ کې د [جیم] او [لام] سکون په فتحه سره ﴿وَاجَعَلَنَا﴾.

### د جلي لحن حکم

پورتني اشتباهات او یا د هغو په شان غلطي کولوته جلي لحن وایې او دهغوی د واقع کیدو څخه باید ډډه وشي ځکه چې جلي لحن کول حرام دي او تر دې چې په ځینو ځایونوکې دایت معنا او مفهوم ته بدلون ورکوي او له کبله یې لمونځ فاسدیږي.

### ۲ـ خفي لحن

خفي لحن کوچنی اشتباه ته وایي[1] چې دآیت معنا ته بدلول نه ورکوي. خو د کلمې حسن او ښایست له منځه وړي او دا د تجوید د علم د اصولو او ضوابطو خلاف عمل دی.

لکه دغه قاعده : هر کله چې د (را) حرف فتحه یا ضمه ولري، ډکه لوستله کیږي، نو په ﴿رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ او په ﴿رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ كَانُوا مُسْلِمِينَ﴾ که چیرې د قاعدې

۱- هغه اشتباه چه خواص پرې پوهیږي نه عام خلک (له عوامو پټ وي)

خلاف عمل وشي او د (را) توری تش ولولو، نو خفي لحن رامنځته کيږي.

## د خفي لحن حکم

په خفي لحن کې واقع کېدل مکروه عمل دی.

په هر دول چې وي د الله تعالی په کلام کې له هر ډول خطا او تېروتنې څخه ځان ساتل پرټولو مسلمانانو لازم دی او د دې کار سرته رسول د تجويد د قواعدو له زده کولو او پر هغو له عمل پرته ناشوني دي، نو د تجويد د قواعدو زده کړه ډېر ارزښت لري.

### تمرين او تطبيق

زده کوونکي دې لاندې سورت پداسې توګه تمرين کړي چې له جلي لحن او خفي لحن څخه خالي وي .

﴿بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝١ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝٢ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝٣ مَٰلِكِ يَوۡمِ
ٱلدِّينِ ۝٤ إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ۝٥ ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ۝٦ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ
عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ۝٧﴾

### پوښتنې

۱- لحن په څو ډوله دی؟ نومونه يې واخلئ.

۲ـ جلي لحن تعريف کړئ او يو مثال يې ذکر کړئ؟

۳- جلي لحن په څو ډوله دی؟

٤- د جلي لحن پنځه مثالونه بيان کړئ.

۵ـ خفي لحن تعريف کړئ او يو مثال يې راوړئ.

٦ـ جلي لحن څه حکم لري؟ له دلیل سره یې واضح کړئ ؟

**کورنۍ دنده**

زده کوونکې دې لس کلمې چې عام خلك یې د جلي لحن کولو مرتکب کېږي، په کتابچو کې ولیکي او د ټولګیوالو پر وړاندې دې ولولي او دهغوی د سم تلفظ طریقه دې ور وښیې.

## د قرآن كريم د لوستلو ظاهري آداب

د قران كريم لوستل له لوړو او غورو كارونو څخه دي، د قران كريم لوستونكي بايد پوه شي چې د الله تعالى سپېڅلى كتاب لولي، له الله تعالى سره خبرې كوي او الله تعالى له ده سره خبرې كوي، نو د قرآن كريم عزت او درناوى چې د شعاير الله د لړليك په سر كې راځي، د تقوا او پرهېزګارۍ ښكارندوى دى، نوارېنه ده چې د قرآن كريم لوستونكي د لوى ښتن تعالى او د هغه د ستر كتاب د لوستلو پرمهال هغه آداب چې ځيني يې ظاهري او نور يې باطني دي، مراعات كړي.

### الف ـ ظاهري آداب

له بې اودسۍ او جنابت نه پاكوالى ، د بدن پاكوالى، د جامو پاكوالى او د تلاوت ځاى بايد له ټولو پليتيو پاك وي، الله تعالى فرمايي: ﴿لَا يَمَسُّهُ إِلاَّ الْمُطَهَّرُونَ﴾[1].

۲ـ مسواك وهل:[2]

۳ـ قبلې ته مخامخ كېناستل.

---

۱-سورة الواقعه : ۷۹) ترجمه نه دى لمس كوى خو پاكان او د قران كريم لوستل عبادت دى چې بايد په پاكې سره وشى او په اوداسه تلاوت كول د لا ډېر درناوې نښه ده.

۲ - ابن ماجه په خپل سنن كې له علي رض روايت كوي چې وايي «إِنَّ أَفْوَاهَكُمْ طُرُقُ لِلْقرأن كريم، فَطَيِّبُوهَا بِالسِّوَاكِ» ستاسو خولې د قران كريم د راوتلو لاره ده، نو خپلې خولې په مسواك سره پاكې كړئ، د حديث شميره ۲۹۱ شيخ الباني دغه اثر صحيح ويلى .

٤ـ أعوذ بالله ويل.

د قرآن لوستل د" أعوذ بالله من الشيطن الرّجيم" په ويلو پيل کول، ځکه چې الله تعالی فرمايي: ﴿فَإِذَا قَرَأْتَ الْقرآن فَاسْتَعِذْ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمَ﴾.[۱]

٥ـ بسم الله ويل .

"بسم الله الرّحمن الرّحيم" د توبې له سورت پرته د ټولوسورتونو په پيل کې.

٦ـ په آرامه او عزت سره لوستل

٧ـ په پوره ادب سره کېناستل.

٨ـ په منځني ډول سره لوستل

نه ډېر لوړ او نه ورو، بلکې په منځني ډول سره لوستل .[۲]

٩ـ په ښکلي او برابر آواز سره لوستل .

پيغمبرﷺ فرمايي : ﴿زَيِّنُوا الْقرآن بِأَصْوَاتِكُمْ﴾[۳] او همدارنگه وايي: ﴿لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَتَغَنَّ بِالْقرآن﴾.[۴] يو ټکې ته بايد پاملرنه وشي چې ښکلی اوښايسته آواز له تکلف او

---

۱- سورة النحل ايت ۹۸ ) ژباره: کله چې قران لولی د شړل شوي شيطان له شره الله ته پناه يوسه. په دغه أيت کې په استعاذه امر شوی چې د اصول فقهي د قواعدو له مخې د وجوب افاده کوي، نو ځکه د تلاوت په پيل کې استعاذه واجب ده.

۲- همدارنگه الله تعالی د لمانځه د تلاوت په هکله فرمايي :{وَلاَ تَجْهَرْ بِصَلاَتِكَ وَلاَ تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذَلِكَ سَبِيلاً} [اسراء: ۱۱۰]

۳- ژباره: "لمونځ په ډېر جهر او يا ډېر خفيه مه لوله اود دواړو تر منځ لاره غوره کړه " اعتدال په هر څه کې مطلوب وي او تلاوت کوونکې بايد چا ته زيان ونه رسوي.

(۱) ژباره : قران کريم ته ( د قران کريم لوستلو ) په اوازونو ښايست وښيئ . دغه حديث نسايي ۱۰۱۵ شمېرې او ابن ماجه په (۱۳٤۲) او ابوداود په (۱٤۷۰) شميرى سره روايت کړی او شيخ الباني ورته صحيح ويلي دي.

٤- دغه حديث شرحه کوونکو دوه ډوله معنا کړيدی: الف: هغه څوك چې په قران کريم سره مستغنی نه شو زمونږ له ډلې څخه نه دی. ب: چا چې قران کريم په ښکلي غږ ونه لوست، زموږ له ډلې څخه نه دی او همدغه يې مشهوره معنا ده، ابوداود هغه ۱٤۷۱ په شميره کې روايت کړی دی او په بل روايت کې يې ۱٤۷۳ شمېرې سره راوړی چې عبدالجبار

لحن سره ملګرتیا و نه لري چې پدې صورت کې ناوړه دی.

۱۰ـ د تلاوت سجدې اداکول:

د سجدې د آیت د لوستلو پرمهال د تلاوت سجده کول.[(۱)]

۱۱ـ په لوړ ځای کې د قرآن کریم ایښودل.

په لوړ ځای کې د قرآن کریم ایښودل، ځکه چې د قرآن کریم مقام تر هر څه لوړ دی.

## پوښتنې

۱ـ د قرآن کریم د تلاوت آداب څه ارزښت لري؟ معلومات ورکړئ.

۲ـ طهارت له کوم ډول آدابو څخه دی او د هغه د اړتیا دلیل څه دی؟ واضح یې کړئ.

۳- د قرآن په لومړي سرکې د ((اعوذ باالله من الشیطن الرجیم)) ویل څه حکم لري؟

---

ورد ابن ابي ملیکه ته چې دواړه د دې حدیث راویان دي وویل: که څوک د ښه اواز ښښتن نه وي هغه څه وکړي؟ ابن ابي ملیکه یې په ځواب کې وویل: د خپل وس په اندازه دې خپل اواز ښایسته کړي او د مسلم په روایت په ۱۸۸۳ شمیره روایت شوی دی: «مَا أَذِنَ اللّٰہُ لِشَىْءٍ مَا أَذِنَ لِنَبِىٍّ حَسَنِ الصَّوْتِ يَتَغَنَّى بِالْقرآن يَجْهَرُ بِهِ» یعنې الله تعالی چې پیغمبرﷺ ته د قرآن کریم د لوستلو پر مهال د خوش آوازۍ اجازه ورکړې، هیڅ شي ته یې په دومره اندازه اجازه نه ده ورکړې.

۱- که چیرې کومه ستونزه نه وي، سمدستی دې اداکړی او که کومه ستونزه وي، بل هر مناسب وخت کې یې ادا کولای شي، د اداکولو طریقه یې داسې ده چې وروسته له اودس کولو او قبلې ته له مخ کیدلو او لمانځه د شرایطو له پوره کولو په زړه کې داسې نیت وکړي: نیت کوم چې اداکړم د تلاوت سجده چې پر ما واجب شوېده، الله اکبر دې وایي، بیله لاسونو پورته کولو غوږ ونوته مستقیماً دې سجدی ته لاړ شي او یوه سجده دې وکړي او بیا دې الله اکبر ووایي او له سجدې دې او چت شي. په سجده کې "سبحان ربّی الاعلی" ویل هم سم دی، خو د«سَجَدَ وَجْهِی لِلَّذِی خَلَقَهُ وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ بِحَوْلِهِ وَقُوَّتِهِ»، دا په حدیث کې راغلي چې ویل یې تر سبحان ربي الاعلی ښه دي او د سنن ابی داود ۱٤۱٦ شمېره حدیث او ترمذي (۵۸۰) شمېره حدیث دې وکتل شي او شیخ الباني ورته صحیح حدیث ویلی دی.

٤ـ یو تلاوت کوونکي د قرآن کریم د لوستلو پر مهال څرنګه کښېني او څرنګه حالت غوره کوي؟

٥ـ د تلاوت د سجدې د اداکولو عملي طریقه تمثیل کړئ.

**کورنۍ دنده**

زده کوونکي دې پنځه ظاهري او دوه باطني آداب پخپلو کتابچو کې ولیکي .

## د قرآن کریم د لوستلو باطني آداب

### ١- په تلاوت کې اخلاص:

ځکه چې د قرآن کریم لوستل مسلمانانو ته سترعبادت دی او عبادت له اخلاصه پرته د منلو وړنه دی.[١]

### ٢ـ د قرآن کریم پر حکمونو عمل کول:

څرنګه چې د قرآن کریم لوستلونکي د قرآن کریم حرفونه لولي،همدارنګه باید د قرآن کریم حدود وساتي، حلال يې حلال او حرام يې حرام وګڼي اود قرآن کریم حکمونه ضايع نه کړئ چې یوازې لوستل هدف نه دي،عمل کول هم لوړ او ستر هدف دی .

### ٣ـ په (غور) او تفکر سره تلاوت کول:

تلاوت کوونکې باید قرآن کریم په غور او تفکر سره ولولي او له هغه څخه خوند واخلي، الله تعالی فرمالي: ﴿كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُو الْأَلْبَابِ﴾.[٢]

### ۴ـ له هیلې اوویرې سره تلاوت کول:

هر کله چې تلاوت کوونکي داسې آیت تلاوت کوي،چې په هغو کې د اخروي نعمتونو او الهي رحمتونو او جنتونو یادونه شوې وي،سمدستي دې له الله تعالی څخه د هغو نعمتونو غوښتنه وکړي او کله چې د عذاب آیت لولي،له الهي ذات څخه دې پناه وغواړي.[٣]

١- الله تعالی فرمايلي: {فَاعْبُدِ اللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّينَ}[زمر:٢] ژباړه: له دې کبله ته د هماغه الله تعالی عبادت وکړه. په داسې حال کې چې دین موخالص الله لره وی.

٢- سورة ص : ٢٩ ژباره : دا يو ډير برکتناک کتاب دی چې موږ تاته نازل کړی دی، تر څو چې دوی د دغه کتاب پر ایتونو غور وکړي او د پوهې او فکر خاوندان ترې نه پند واخلي.

٣- حذيفه له نبي كريمﷺ نه روايت كړى چې :«كَانَ إِذَا مَرَّ بِأَيَةِ رَحْمَةٍ سَأَلَ ، وَإِذَا مَرَّ بِأَيَةِ عَذَابٍ اسْتَجَارَ» د نبي كريمﷺ عادت و چې كله به يي د رحمت ايت ولوست، له اللهﷻ به يې د رحمت غوښتنه کوله اوکه به يې د عذاب ايت ولوست د الله له عذاب نه به يې پناه غوښتله، سنن ابن ماجه حديث ګڼه (١٣٢) او سنن سنايي ((١٠٠٩)) ګڼه حديث دې وکتل شی شيخ البانی ورته صحيح ويلی .

## تمرین او تطبيق

زده کوونکې دې لاندې سورت داسې تمرين کړي چې ظاهري او باطني اداب پکښې ټول مراعات کړي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ (١) خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ (٢) اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ (٣) الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ
(٤) عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ (٥) كَلَّا إِنَّ الْإِنسَانَ لَيَطْغَىٰ (٦) أَن رَّآهُ اسْتَغْنَىٰ (٧) إِنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ الرُّجْعَىٰ
(٨) أَرَأَيْتَ الَّذِي يَنْهَىٰ (٩) عَبْدًا إِذَا صَلَّىٰ (١٠) أَرَأَيْتَ إِن كَانَ عَلَى الْهُدَىٰ (١١) أَوْ أَمَرَ بِالتَّقْوَىٰ (١٢)
أَرَأَيْتَ إِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ (١٣) أَلَمْ يَعْلَم بِأَنَّ اللَّهَ يَرَىٰ (١٤) كَلَّا لَئِن لَّمْ يَنتَهِ لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ (١٥) نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ
خَاطِئَةٍ (١٦) فَلْيَدْعُ نَادِيَهُ (١٧) سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ (١٨) كَلَّا لَا تُطِعْهُ وَاسْجُدْ وَاقْتَرِب (١٩)﴾ (١)

## پوښتنې

١- په تلاوت کې د اخلاص اړتيا دليل وليکئ.

٢- د قرآن کريم پر احکامو د عمل کولو ارزښت ذکر کړئ.

٣- لاندې آيت وژباړئ:

﴿كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُو الْأَلْبَابِ﴾.

٤- په تدبر د تلاوت کولو دليل ذکر کړئ.

## کورنۍ دنده

زده کوونکې دې پنځه ظاهري آداب پخپلو کتابچو کې وليکي .

---

١- د دې سورت په اخر کې سجده ده، له همدې کبله دې د تلاوت سجده عملاً ادا شي.

## پنځم لوست

# د ساکن نون او تنوین احکام

**ساکن نون**:

هغه ساکن نون دی، چې سکون يې د وصل او وقف ، ليک ،لوست په حالاتوکې ثابت پاتې شي، لکه د ﴿مِنْ﴾ نون او ﴿أَنْعَمْتَ﴾ او ﴿أَنْصَارٍ﴾نونونه.[1]

**تنوين** :

تنوين په لغت کې منون کولو(نون ورکولو) ته وايي.

او په اصطلاح کې هغه زايد نون دی چې د کلمې په پای کې د وصل په حالت کې ورسره يو ځای شوی وي اويوازې د لوستلو په صورت کې نون لوستل کېږي او په ليکلوکې د دوو فتحو، دووکسرو، او دووضمو (ـًـٍـٌ) په شکل ليکل کېږي لکه﴿وَكَفَى بِاللهِ حَسِيبًا﴾ ﴿فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُولٍ حَسَنٍ﴾ ، ﴿والله سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾

**د ساکن نون او تنوين تر منځ توپير**:

ساکن نون او تنوين که څه هم په احکامو کې يو دی، خو په څو شيانوکې تو پيرلري چې لاندې بيانيږي:

١ـ ساکن نون د کلمې په منځ او پای[2] دواړوکې راځي، خو تنوين يوازې د کلمې په پای کې راځي.

٢ـ ساکن نون په لوستلو او ليکلو دواړوکې پاتې کېږي، خو تنوين يوازې په لوستلوکې ښکاره کېږي، په ليکلوکې د دووفتحو، دووکسرو، اودووضمو(ـًـٍـٌ) په بڼه ليکل کېږي.

٣ـ ساکن نون په وصل اووقف دواړو حالاتوکې ثابت پاتې کېږي،خو تنوين يوازې د وصل

١– هغه قيدونه چې په تعريف کې ذکر شوي ټول احترازي دي: له (ساکن نون) قيد سره خفيفه متحرك نون لکه[نحن قسمنا بينهم][زخرف: ٣٢] او مشدده نون لکه[من الجنّه و النّاس] خارج شوی او له پاتې کېدو څخه هغه نون خارج شو چې د التقا ساکنين د دفعی لپاره متحرك کېږي لکه[ان ارتبتم][الطلاق:٤] او [الا لمن ارتضى][الجن: ٢٧] او (د وصل او وقف له حالت) څخه هغه نون خارج شو چې د وقف په سبب ساکن شوی وي لکه:[نستعين][الفاتحه: ٥]

٢- د کلمې په پيل کې نه راځي ځکه چې پيل په ساکن سخت او ناشونی ده .

په حال کې ثابت پاتې کېږي.

## د ساکن نون او تنوین احکام

ساکن نون او تنوین څلور حکمونه لري.[1]

۱ـ اظهار ۲ـ ادغام ۳ـ اقلاب ٤ـ اخفاء

# اظهار

## د اظهار تعریف

اظهار په لغت کې ښکاره کولو ته وايي او په اصطلاح کې: دلوستلو پرمهال په ښکاره ډول او بېله کوم بدلون څخه له مخرج څخه د حرف را ویستلو ته اظهار وايي.[2]

## د اظهار توري

د اظهار حروف شپږحلقي توري دي چې شاعر ټول په یوه بیت کې راټول کړي دي .

حلقي حروف شپږدي ای باوفا ـ ،همزه ،ها،عین، حا،غین او خا.

---

۱- څلورګوني احکام ځینو په نظم کې راوړي دي:

تنوین و نون ساکن حکمش بدان ای هوشیار کز حکم آن زینت بود اندر کلام کردګار

در حرف حلق اظهار کن در یرملون ادغام کن در حرف با قلب به میم در مابقی اخفا کن

۲- یعنې ژبه د نون په ځای نښلیدلې وي او دغه حرف په ساده ډول، بې له کوم بدلون څخه ادا کېږي.

که چیرې له ساکن نون او تنوین وروسته له د غوحروفوڅخه راشي، ساکن نون او تنوین باید له ټولو ځانګړتیاوو سره ښکاره ولوستل شي.[۱]

تر حلقي حروفو وړاندې د ساکن نون او تنوین د اظهار جدول

| د اظهار حروف | په یوه کلمه کې د ساکن نون اظهار | په دوو کلمو کې د ساکن نون اظهار | د تنوین د اظهار بېلګې |
|---|---|---|---|
| همزه | ﴿يَنْأَوْنَ﴾ | ﴿مَّنْ آمَنَ﴾ | ﴿وَجَنَّاتٍ أَلْفَافاً﴾ |
| ها | ﴿يَنْهَوْنَ﴾ | ﴿مَنْ هَاجَرَ﴾ | ﴿وَلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ﴾ |
| عين | ﴿أَنْعَمْتَ﴾ | ﴿إِنْ عَلَيْكَ} | ﴿إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ﴾ |
| حا | ﴿يَنْحِتُونَ﴾ | ﴿مِّنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ﴾ | ﴿وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾ |
| غين | ﴿فَسَيُنْغِضُونَ﴾ | ﴿مِّنْ غِلٍّ﴾ | ﴿إِنَّ اللهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ﴾ |
| خا | ﴿الْمُنْخَنِقَةُ﴾ | ﴿مِنْ خَيْرٍ﴾ | ﴿إِنَّ اللهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ﴾ |

**تمرين او تطبيق**

زده کوونکي دې لاندې سورت تلاوت او د اظهار ځایونه دې په ګوته کړي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ مُنفَكِّينَ حَتَّىٰ تَأْتِيَهُمُ الْبَيِّنَةُ ﴿١﴾ رَسُولٌ
مِّنَ اللَّهِ يَتْلُو صُحُفًا مُّطَهَّرَةً ﴿٢﴾ فِيهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ ﴿٣﴾ وَمَا تَفَرَّقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ إِلَّا مِن
بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَةُ ﴿٤﴾ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ
وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ ۚ وَذَٰلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ ﴿٥﴾ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ فِي

۱- په دې ځای کې د اظهار علت له حروفو څخه د ساکن نون او تنوین د مخرج لرې والی دی ، ځکه چې د ساکن نون او تنوین مخرج د ژبې سر دی، چې له وریو سره نښتی وي، خو حلقي حروف ټول له ستوني رابهر کېږي له همدې کبله د اظهار درجې په لاندې شرحې سره توپير لري.

اعلی (لوړه ): له همزه او ها وړاندې په ساکن نون او تنوین کې ترټولو د اظهار لوړه (اعلی) درجه ده.

متوسط (منځنی) : له عین او حا وړاندې په ساکن نون او تنوین تر ټولو د اظهار (منځنی) متوسط درجه ده.

(ټيټه ) : له غین او خا وړاندې په نون ساکن کې د اظهار تر ټولو ( ټيټه ) درجه ده.

نَارِ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ شَرُّ ٱلۡبَرِيَّةِ ٦ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ
أُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ خَيۡرُ ٱلۡبَرِيَّةِ ٧ جَزَآؤُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ
أَبَدٗاۖ رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُۚ ذَٰلِكَ لِمَنۡ خَشِيَ رَبَّهُۥ ٨

## پوښتني

۱- ساکن نون او تنوين تعريف کړئ.

۲- د ساکن نون لپاره دوې بېلگې او د تنوين لپاره هم دوې بېلگې ذکر کړئ.

۳- ساکن نون او تنوين يو تر بله څه توپير لري؟

٤- ساکن نون او تنوين څو حکمونه لري؟ نوم يې واخلئ.

۵- اظهار تعريف کړئ او حروف يې وښيئ.

٦- په يوه کلمه کې د ساکن نون د اظهار لپاره شپږ بېلگې ذکر کړئ.

۷- په دوو کلمو کې د ساکن نون د اظهار لپاره شپږ بېلگې ذکر کړئ.

۸- د تنوين د اظهار لپاره شپږ بېلگې ذکر کړئ.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په يوه کلمه کې د ساکن نون د اظهار لپاره شپږ مثالونه او په دوو کلمو کې د ساکن نون او تنوين د اظهار لپاره شپږ مثالونه پخپلو کتابچو کې وليکي.

# ادغـــــام

## د ادغام تعریف:

ادغام په لغت کې داخلولو او ننویستلوته وایي: او په اصطلاح کې په متحرك توري کې د ساکن توري ننویستلو ته وایي، داسې چې د لوستلو پر مهال د شد لرونکي حرف په شان راشي او د هغو دوو حرفونو د لوستلو لپاره یوازې ژبه له خپل ځایه یو ځل وخوځېږي.

## دادغام توري

د ادغام حروف شپږدی چې د "یَرمَلُون" په کلمه کې راټول شوي دي، هر کله چې له ساکن نون او تنوین وروسته له "یَرمَلُون" څخه یو توری راشي، ساکن نون او یا تنوین په هغه حرف کې ادغام کېږي. په دې معنا چې: ساکن نون او تنوین پر حرف بدلېږي او ورڅخه یو مشدد حرف جوړېږي.[1]

## د ادغام ډولونه :

ادغام دوه ډوله دی :۱ـ غنّه لرونکی ۲ـ بې غنّه

### ۱ـ غنّه لرونکی ادغام:

هر کله چې د "یَنمُو" له حروفو څخه یو حرف له ساکن نون او یا تنوین وروسته په یوه کلمه کې راشي، ادغام له غُنې سره ادا کېږي .[2]

غنې لرونکي ادغام ته ناقص ادغام هم وایي، ځکه چې خپله ساکن نون او تنوین له منځه ځي، خو صفت او اثر یې پاتې کېږي، چې هغه غنه ده.

۱- ساکن نون او تنوین ته مدغم او هغه حرف چې د ساکن نون او تنوین څخه وروسته راځی مدغم فیه وایي.

۲- یعنې ادغام له اواز سره چې له خیشوم (د پوزې اخرنی برخې ته) پورته کېږي، خو باید پوه شو چې د غُنې صفت د دویم حرف دی، نه د اول حرف.

**د ینمُو په حروفوکې د ساکن نون د ادغام "(مع الغنّه) مثالونه:**

﴿مَنْ يَّقُولُ﴾، ﴿إِن نُّقُولُ﴾، ﴿مِّن مَّآءٍ﴾ و﴿مِن وَّلِيٍّ﴾

**د ینموپه حروفو کې د تنوین د ادغام "(مع الغنّه) مثالونه:**

﴿يَوْمَئِذٍ يُّوَفِّيهِمُ﴾، ﴿مَلِكاً نُّقَاتِلْ﴾، ﴿فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ﴾ و ﴿يَوْمَئِذٍ وَّاهِيَةٌ﴾

**یادونه:**

د قرآن کریم په لاندې څلورو کلمو کې چې ساکن نون هم راغلی دی، مطلق اظهار کیږي[1] چې عبارت دي له:

﴿الدنيا﴾، ﴿بُنْيَاناً﴾، ﴿بُنْيَانٌ﴾، ﴿قِنْوَانٌ﴾ و ﴿صِنْوَانٌ﴾[2]

## بې غنې ادغام

بې غنې ادغام دوه حرفونه لري.

[لام] او [را] چې د [لر] کلمه یې راټولوي.

که له دغو دوو حروفو څخه یو له ساکن نون او تنوین وروسته راشي،ساکن نون او تنوین په هغو کې بې غنې ادغامیږي، یعنې ساکن نون او تنوین په [لام] او [را] بدلیږي. وروسته [لام] په [لام] او [را] په راکې ادغامیږي. دغه ادغام ته کامل ادغام ویل کیږي او دهغوی اثر په بشپړه توګه په لام بدلیږي .

**په لام حرف کې د ساکن نون ادغام:**

﴿وَلَكِن لاَّ يَشْعُرُونَ﴾ و﴿مِن لَّدُنْهُ﴾

---

۱- دغه اظهار ته مطلق اظهار وایي ځکه چې حلقي حروفو پورې تړل شوی نه دی.

۲- په پورتینو مثالونوکې د ادغام نه کولو علت دادی چې ساکن نون په (واو) کې سره له دې چې یا او واو له ساکن نون وروسته واقع شوي دي. که مو ادغام کړی وای، دغه الفاظ له مضاعفو کلماتو سره (چې اصلي حروف یې تکرار شوي وي) مشتبه شی، که د "صِنْوَانٌ"پرځای "صِوَّانٌ" او د"الدُّنْيَا" پرځای"الدُّيَّا" ووایو،دا به څرګنده نه شی چې "صِوَّانٌ" د "صِنْوٌ" له ریشې څخه ده او همدارنګه "الدُّيَّا" د "الدَّنِي" له ریښې څخه ده له همدی کبله باید نون ساکنه په پورتنیو مثالونو کې اظهار شي ترڅو پورتنۍ غلطۍ رامنځ ته نشي او له داسې غلطیو او ابهاماتو څخه مخنیوی وشي .

**په [لام] کې د تنوين ادغام**:

﴿هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ﴾، ﴿يَوْمَئِذٍ لَّخَبِيرٌ﴾

**په [ر] کې دساکن نون ادغام**

﴿مِنْ رَّبِّهِمْ﴾ و ﴿كُلُواْ مِن رِّزْقِ رَبِّكُمْ﴾.

**په [ر] کې دتنوين ادغام**:

﴿مِنْ ثَمَرَةٍ رِّزْقًا﴾ و ﴿إِنَّ رَبَّكُمْ لَرَؤُوفٌ رَّحِيمٌ﴾.[1]

**تمرين او تطبيق**

زده کوونکي دې لاندې سورت تلاوت او د ادغام ځايونه دې معلوم او تطبيق کړي.[2]

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿لَآ أُقْسِمُ بِهَٰذَا ٱلْبَلَدِ ﴿١﴾ وَأَنتَ حِلٌّۢ بِهَٰذَا ٱلْبَلَدِ ﴿٢﴾ وَوَالِدٍ وَمَا وَلَدَ ﴿٣﴾ لَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ فِى كَبَدٍ
﴿٤﴾ أَيَحْسَبُ أَن لَّن يَقْدِرَ عَلَيْهِ أَحَدٌ ﴿٥﴾ يَقُولُ أَهْلَكْتُ مَالًا لُّبَدًا ﴿٦﴾ أَيَحْسَبُ أَن لَّمْ يَرَهُۥٓ أَحَدٌ ﴿٧﴾ أَلَمْ
نَجْعَل لَّهُۥ عَيْنَيْنِ ﴿٨﴾ وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ ﴿٩﴾ وَهَدَيْنَٰهُ ٱلنَّجْدَيْنِ ﴿١٠﴾ فَلَا ٱقْتَحَمَ ٱلْعَقَبَةَ ﴿١١﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ
مَا ٱلْعَقَبَةُ ﴿١٢﴾ فَكُّ رَقَبَةٍ ﴿١٣﴾ أَوْ إِطْعَٰمٌ فِى يَوْمٍ ذِى مَسْغَبَةٍ ﴿١٤﴾ يَتِيمًا ذَا مَقْرَبَةٍ ﴿١٥﴾ أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ

---

۱- د امام حفص رح په روايت سره دالله تعالى دغه قول:{وَقِيلَ مَنْ رَاقٍ}[القيامة: ۲۷] مستثنى دی. يعني (نون په راکې نه ادغاميږي) او د ادغام نه کولو سبب يې هم د(من) به نون کې سکته ده. ځکه سکته له نون سره د ملاقات مانع کيږي او د ملاقات د نشتون په صورت کې د يو حرف ادغام په يو بل کې امکان نلری، همدارنگه دامام حفص رح نه په يوه طريقه په [را] کې دنون دادغام له قاعدې دوه ځايونه مستثنى دی ۱- ﴿نٓ وَٱلْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ﴾[القلم : ۱] ۲- ﴿يسٓ وَٱلْقُرْءَانِ ٱلْحَكِيمِ﴾[ يس : ۱-۲] : پدې ځای کې نون ساکنه د واو په حرف کې نه ادغاميږي بلکې اظهاريږي او دا د شاطبي طريقه ده، البته د جزري په طريقه ادغام کولای شو.

۲-دادغام علتونه (( سببونه))

په لنډ ډول کولای شو ووايو چې د ساکن نون او تنوين دادغام سببونه ديرملون په حروفو کې دری دی .

تماثل : له ساکن نون او تنوين وروسته د نون را تلل .

د مخرج تقارب (نږديوالی) : له ساکن نون او تنوين وروسته (ميم)-(لام) او (را) راتلل.

په صفاتوکې هم جنسوالی: له ساکن نون او تنوين وروسته د (واو) او (يا) راتلل.

دادغام گټې:

دادغام گټه په خبروکې اسانتيا ده که حرف يوځل ولوستل شي او وروسته بيا مخرج خلاص اودوهم ځل هماغه حرف يا مشابه او نږدې حرف تلفظ شي، دغه کار پرژبه درونډ تماميږي.

مثلاً په "قُل لَّهُمْ-وَدَّت طَّائِفَةٌ" بيله ادغام څخه پرې تلفظ کول د"قُل لَّهُمْ-وَدَّت طَّائِفَةٌ" په پرتله دادغام په صورت کې (( د ادغام لام په لام کې ) لکه (قُل لَّهُمْ)(( او تا په طاکې)) لکه (وَدَّت طَّائِفَةٌ).

﴿١٦﴾ ثُمَّ كَانَ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَتَوَاصَوْاْ بِٱلصَّبۡرِ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلۡمَرۡحَمَةِ ﴿١٧﴾ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡمَيۡمَنَةِ ﴿١٨﴾ وَٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِنَا هُمۡ أَصۡحَٰبُ ٱلۡمَشۡـَٔمَةِ ﴿١٩﴾ عَلَيۡهِمۡ نَارٞ مُّؤۡصَدَةُۢ ﴿٢٠﴾

## پوښتنې

١- ادغام تعريف کړئ ؟

٢- دادغام حروف کوم دي؟

٣- ادغام څو ډوله دی ؟ د هر يوه نوم واخلئ .

٤- په ينمو کې کوم ډول ادغام دی؟ واضح يې کړئ.

٥- په [لر] حرفونو کې کوم ډول ادغام رامنځ ته کېږي؟ مثال ورکړئ.

٦- په ﴿الدنيا﴾، ﴿بُنْيَانًا﴾، ﴿بُنْيَانٌ﴾ ، ﴿قِنْوَانٌ﴾ و ﴿صِنْوَانٌ﴾کې د ساکن نون د ادغام د نه کېدلو دليل ووايئ.

٧- په لاندې آيتونو کې چې په هغو کې ادغام رامنځ ته کېږي، لکه لاندني مثال، تر هغو لاندې کرښه وکاږئ؟ ﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبۡرَةٗ لِّمَن يَخۡشَىٰٓ﴾

﴿مَتَٰعٗا لَّكُمۡ وَلِأَنۡعَٰمِكُمۡ ﴿٣٣﴾ فَإِذَا جَآءَتِ ٱلطَّآمَّةُ ٱلۡكُبۡرَىٰ ﴿٣٤﴾ يَوۡمَ يَتَذَكَّرُ ٱلۡإِنسَٰنُ مَا سَعَىٰ ﴿٣٥﴾
وَبُرِّزَتِ ٱلۡجَحِيمُ لِمَن يَرَىٰ ﴿٣٦﴾ فَأَمَّا مَن طَغَىٰ ﴿٣٧﴾ وَءَاثَرَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا ﴿٣٨﴾ فَإِنَّ ٱلۡجَحِيمَ هِيَ ٱلۡمَأۡوَىٰ
﴿٣٩﴾ وَأَمَّا مَنۡ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ وَنَهَى ٱلنَّفۡسَ عَنِ ٱلۡهَوَىٰ ﴿٤٠﴾ فَإِنَّ ٱلۡجَنَّةَ هِيَ ٱلۡمَأۡوَىٰ ﴿٤١﴾ يَسۡـَٔلُونَكَ
عَنِ ٱلسَّاعَةِ أَيَّانَ مُرۡسَىٰهَا ﴿٤٢﴾ فِيمَ أَنتَ مِن ذِكۡرَىٰهَآ ﴿٤٣﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ مُنتَهَىٰهَآ ﴿٤٤﴾ إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرُ مَن
يَخۡشَىٰهَا ﴿٤٥﴾ كَأَنَّهُمۡ يَوۡمَ يَرَوۡنَهَا لَمۡ يَلۡبَثُوٓاْ إِلَّا عَشِيَّةً أَوۡ ضُحَىٰهَا ﴿٤٦﴾﴾

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې شپږ کلمې، په خپلو کتابچو کې وليکي چې ادغام پکې راغلی وي.

اووم لوست

# اقلاب

**د اقلاب تعریف**:

اقلاب په لغت کې اړولو (نسکورولو ) او بدلولو ته وايي.

په اصطلاح کې : د ساکن نون او تنوین په میم بدلول دي.[۱]

**د اقلاب حرف**:

هر کله چې له ساکن نون او تنوین وروسته د (ب) حرف راشي، ساکن نون او تنوین په میم بدلیږي او له غنې سره ادا کیږي .[۲]

**د اقلاب مثالونه**

**الف** : **په میم سره د ساکن نون د اقلاب مثال**:

﴿قَالَ يَا آدَمُ أَنبِئْهُم بِأَسْمَآئِهِمْ فَلَمَّا أَنبَأَهُمْ بِأَسْمَآئِهِمْ﴾

﴿مَّثَلُ الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنبُلَةٍ مِّئَةُ حَبَّةٍ﴾.

۱- په تلفظ کې نه په لیکنه کې ځکه په لیکنه کې نون پخپله لیکل کیږي. که څه هم په ځینو چاپونو کې کوچنی میم د نون پر سر لیکل کیږي.

۲- د اقلاب طریقه او شفوی اخفاء (چې وروسته له ساکن میم څخه ب راشي) یودی، چې د شونډو وچ اړخ له نرم اړخ سره یو ځای کیږي او د یوه الف په کچه غنه کیږي ، وروسته شونډوله لوندوالی (با) اداکیږي د اسانتیا له لپاره د قران کریم په ځینو چاپونوکې د[را] له اقلاب ساکن نون او تنوین وروسته وړوکی میم لیکل کیږي په دې ډول: {فَلَمَّا أَنبَأَهُمْ بِأَسْمَآئِهِمْ}[البقرة: ۳۳].

**ب: په دوو کلمو کې په میم سره د ساکن نون د اقلاب مثال:**

﴿مِنْ بَعْدِهِمْ﴾، ﴿فَمَن بَدَّلَه﴾ و ﴿ اَنْ بُوْرِكَ﴾.

**ج: په میم سره د تنوین د اقلاب مثال:**

﴿بَغْيًا بَيْنهمْ﴾، ﴿اِنَّ اللهَ عَلِيْمٌ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ﴾ و ﴿اِنَّ اللهَ كَانَ سَمِيْعًا بَصِيْرًا﴾

﴿كَلَّا لَئنْ لَّمْ يَنْتَهِ لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ﴾.(۱)

﴿وَأَنْتَ حِلٌّ بِهَذَا الْبَلَدِ﴾

### تمرین او تطبیق

زده کوونکي دې لاندې آیاتونه تمرین کړي او د[را] د اقلاب ځایونه دې په کې معلوم او تطبیق کړي {وَأَنْتَ حِلٌّ بِهَذَا الْبَلَدِ}

﴿كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِطَغْوَىٰهَآ ﴿١١﴾ إِذِ ٱنۢبَعَثَ أَشْقَىٰهَا ﴿١٢﴾ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ ٱللَّهِ نَاقَةَ ٱللَّهِ وَسُقْيَٰهَا ﴿١٣﴾ فَكَذَّبُوهُ فَعَقَرُوهَا فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ رَبُّهُم بِذَنۢبِهِمْ فَسَوَّىٰهَا ﴿١٤﴾ وَلَا يَخَافُ عُقْبَٰهَا ﴿١٥﴾﴾

﴿وَأَمَّا مَنۢ بَخِلَ وَٱسْتَغْنَىٰ﴾

﴿أَلَمْ يَعْلَم بِأَنَّ ٱللَّهَ يَرَىٰ ﴿١٤﴾ كَلَّا لَئِن لَّمْ يَنتَهِ لَنَسْفَعًۢا بِٱلنَّاصِيَةِ﴾

---

۱- د فعل په پای کې د تاکید نون د تنوین په ډول لیکل کېږي که چیرته ترینه (با) واقع شي اقلاب کېږي او داسې لوستل کېږي: { لَنَسْفَعَنْ بِالنَّاصِيَةِ}

﴿وَمَا تَفَرَّقَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُمُ ٱلۡبَيِّنَةُ﴾

﴿إِنَّ رَبَّهُم بِهِمۡ يَوۡمَئِذٖ لَّخَبِيرُۢ﴾

﴿كَلَّاۖ لَيُنۢبَذَنَّ فِي ٱلۡحُطَمَةِ﴾

﴿تَرۡمِيهِم بِحِجَارَةٖ مِّن سِجِّيلٖ﴾

## پوښتني

۱ـ اقلاب تعريف کړئ اوحرف يې وښيئ ؟

۲ـ د اقلاب طريقه عملاً سرته ورسوئ؟

۳ـ په يوه کلمه کې په ميم سره دساکن نون داقلاب دوې بېلګې وړاندې کړئ ؟

٤ـ په دوو کلموکې په ساکن ميم سره د ساکن نون داقلاب دوې بېلګې وړاندې کړئ ؟

٥ـ په ميم کې دتنوين داقلاب مثالونه ذکر کړئ ؟

٦ـ په لاندني آيت کې داقلاب ځای راوښيئ . ﴿بِأَيِّ ذَنْبٍ قُتِلَتْ﴾

۷- دلاندني عبارت پر وړاندې د صحيح(√) يا غلط (X) نښه وکاږئ د ﴿سُنْبُلَة﴾ و ﴿أَنْتَ حِلٌّ بِهَذَا الْبَلَدِ﴾ په کلمه کې اخفا کېږي ( ).

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې پنځه آیتونه چې په هغو کې اقلاب واقع کېږي، په کتابچو کې ولیکي.

# اخفـاء

اخفأ په لغت کې پټولو او پوښلوته وایي.

په اصطلاح کې: د اظهار او ادغام تر منځ غنه لرونکې حالت ته اخفا ویل کیږي .

یعنې : نه داظهار د حرف په شان له خپل مخرج څخه ادا کیږي او نه د ادغام د حرف په شان چې وروستنی حرف مشدد کوي، بلکې د غنې اواز له پزې راوځي .

## د اخفا حروف :

د اظهار، ادغام، اقلاب او د (الف)[1]له حروفو پرته نور پنځلس حروف د اخفا حروف دي چې هغه:( ص،ذ،ث،ج،ش،ق،س،د،ط،ز،ف،ض،ظ) دي.

دغه حروف دلاندني بیت په لومړیو کلماتو کې راغلي دي:

صِفْ ذَا ثَنَا كَمْ جَادَ شَخْصٌ قَدْ سَمَا　　　　دُمْ طَيِّباً زِدْ فِي تُقىً ضَعْ ظَالما.[2]

هر کله چې له ساکن نون او تنوین څخه وروسته له پورتنیو حروفو څخه یو راشي، په دې صورت کې اخفأ رامنځ ته کیږي.[3]

---

۱- ځکه چې الف له ساکن نون او تنوین وروسته نه راځي ځکه چې یوله پورتنیو حکمونوڅخه (اظهار،ادغام،اقلاب،اخفاء) په هغه پوری تړاونه لري .

۲- ژباړه : د ثنا څښتنه : څومره هغه اوهاند دې وکړ چې هسك لاړې او عظمت دې ترلاسه کړ، د تل لپاره ښېگڼه کوه، پرهېزگاري دې ډیره کړه او ظالم پریږده .

۳- د ساکن نون او تنوین د اخفاء علت دادی: چې د اخفاء حروف له (ن) څخه دومره لرې دي (لکه د حلقيٍ حروفو لرې والی ) تر څو هلته اظهار وشي او نه دومره لنډ دي لکه (یرملون)، تر څو په هغو کې ادغام وشي ،نوالزاماً ددواړو تر منځ ادا کیږي .

## د اخفا له حروفو مخکې د ساکن نون او تنوين د اخفا مثالونه[1]

| د اخفا حروف | په يوه کلمه کې د ساکن نون اخفا | په دوو کلمو کې د ساکن نون اخفا | د تنوين اخفا |
|---|---|---|---|
| ص | ﴿فَاِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ﴾ | ﴿اَنْ صَدُّوْكُمْ﴾. | ﴿وَّجَاءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا﴾ |
| ذ | ﴿فَاَنْذَرْتُكُمْ نَارًا تَلَظّٰى﴾ | ﴿مِنْ ذَكَرٍ﴾ | ﴿يَّتِيْمًا ذَا مَقْرَبَةٍ﴾ |
| ث | ﴿مَّنْثُوْرًا﴾ | ﴿مَنْ ثَقُلَتْ﴾ | ﴿مَاءً ثَجَّاجًا﴾ |
| ك | ﴿وَوَضَعْنَا عَنْكَ وِزْرَكَ﴾ | ﴿وَ اِنْ كَانَ﴾ | ﴿قَالُوْا تِلْكَ اِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ﴾ |
| ج | ﴿فَاَنْجَيْنَاهُ﴾ | ﴿مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ﴾ | ﴿وَّتُحِبُّوْنَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا﴾ |
| ش | ﴿اِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ﴾ | ﴿فَمَنْ شَاءَ ذَكَرَهُ﴾ | ﴿وَاللهُ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ شَهِيْدٌ﴾ |
| ق | ﴿وَاِذَا انْقَلَبُوا﴾ | ﴿فَمَا لَهُ مِنْ قُوَّةٍ وَّلَا نَاصِرٍ﴾ | ﴿اِنَّا اَنْذَرْنَاكُمْ عَذَابًا قَرِيْبًا﴾ |
| س | ﴿يَاأَيُّهَا الْاِنْسَانُ﴾ | ﴿مِّنْ سَيِّاٰتِكُمْ﴾ | ﴿وَرَجُلًا سَلَمًا لِّرَجُلٍ﴾ |
| د | ﴿وَعِنْدَهُ أُمُّ الْكِتَابِ﴾ | ﴿وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰاهَا﴾ | ﴿خُلِقَ مِنْ مَّاءٍ دَافِقٍ﴾ |
| ط | ﴿اِنْطَلِقُوْا﴾ | ﴿فَاَمَّا مَنْ طَغٰى﴾ | ﴿فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا﴾ |
| ز | ﴿وَّاَنْزَلْنَا﴾ | ﴿قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰاهَا﴾ | ﴿فَتُصْبِحَ صَعِيْدًا زَلَقًا﴾ |
| ف | ﴿وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُوْنَ﴾ | ﴿اِنْ فِىْ صُدُوْرِهِمْ﴾ | ﴿اِنَّهُ لَقَوْلٌ فَصْلٌ﴾ |
| ت | ﴿اِلٰى رَبِّكَ مُنْتَهَاهَا﴾ | ﴿وَمِزَاجُهُ مِنْ تَسْنِيْمٍ﴾ | ﴿جَنّٰتٌ تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهَارُ﴾ |
| ض | ﴿مَّنْضُوْدٍ﴾ | ﴿مِنْ ضَرِيْعٍ﴾ | ﴿وَكُلًّا ضَرَبْنَا﴾ |
| ظ | ﴿فَلْيَنْظُرِ الْاِنْسَانُ مِمَّ خُلِقَ﴾ | ﴿اِنْ ظَنًّا﴾. | ﴿ظِلًّا ظَلِيلًا﴾ |

---

۱- په لاندنيو مثالونوکې زيار ايستل شوی، تر څو په يوه کلمه او يادووکلموکې د اخفا مثالونه وړاندې شي، محترم استاد دې د دغه کوونکو پاملرنه دې ټکي ته را واړوي، تر څو يې په ښه توګه ذهن ته وسپاري.

## تمرين او تطبيق

زده کوونکې دې لاندې آيتونه تمرين او د اخفا ځايونه دې پکې معلوم اوتطبيق کړي

﴿لَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ فِى كَبَدٍ﴾، ﴿أَوْ إِطْعَٰمٌ فِى يَوْمٍ ذِى مَسْغَبَةٍ﴾ ﴿يَتِيمًا ذَا مَقْرَبَةٍ﴾ ﴿أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ﴾، ﴿قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّىٰهَا﴾ ﴿وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّىٰهَا﴾، ﴿فَأَنذَرْتُكُمْ نَارًا تَلَظَّىٰ﴾، ﴿وَوَضَعْنَا عَنكَ وِزْرَكَ﴾ ﴿ٱلَّذِىٓ أَنقَضَ ظَهْرَكَ﴾، ﴿فَإِذَا فَرَغْتَ فَٱنصَبْ﴾، ﴿كَلَّا لَئِن لَّمْ يَنتَهِ لَنَسْفَعًۢا بِٱلنَّاصِيَةِ﴾ ﴿نَاصِيَةٍ كَٰذِبَةٍ خَاطِئَةٍ﴾، ﴿لَمْ يَكُنِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ وَٱلْمُشْرِكِينَ مُنفَكِّينَ حَتَّىٰ تَأْتِيَهُمُ ٱلْبَيِّنَةُ﴾ ﴿رَسُولٌ مِّنَ ٱللَّهِ يَتْلُوا۟ صُحُفًا مُّطَهَّرَةً﴾ ﴿فِيهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ﴾، ﴿وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُۥ﴾.[1]

## پوښتنې

۱. اخفاء تعريف کړئ؟

۲. اخفاء څو توري لري، يوازې نومونه يې واخلئ؟

۳. د اخفا توري د هغه شعر په ترڅ کې چې لوستلی مو دی، بيان کړئ؟

٤. په لاندنيو کلمو کې د اخفاء ځايونه معلوم کړئ؟﴿فَمَنْ شَاءَ﴾﴿إِنَّا أَنْذَرْنَاكُمْ عَذَابًا قَرِيبًا يَوْمَ يَنْظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ وَيَقُولُ الْكَافِرُ يَا لَيْتَنِي كُنْتُ تُرَابًا﴾.

۵. په لاندنيو دريو آيتونو کې د اخفاء کوم توري کارول شوي، په گوته يې کړئ؟﴿وَبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا - وَأَنْزَلْنَا مِنَ الْمُعْصِرَاتِ مَاءً ثَجَّاجًا - وَكَأْسًا دِهَاقًا﴾.

---

۱- محترم استاد دې د لوست د وخت په پام کې نيولوسره څو ځلې عملاً زده کوونکوته تمرين او تطبيق کړي او څلور واړه حکمونه د اظهار، ادغام، اقلاب، اخفا) دې د قران کريم په کلماتو کې وروښيي، ترڅو يې ښه زده شي.

٦. تر هغو کلمو لاندې چې کرښه راکښل شوې، د ساکن نون او تنوین کوم یو حکم (اظهار، ادغام، اقلاب، اخفاء) د تطبیق وړ دی؟ په ګوته یې کړئ﴿قَالُوا تِلْكَ إِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ-فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَاحِدَةٌ- فَإِذَا هُمْ بِالسَّاهِرَةِ﴾.

٧- د څلورو کلمو یادونه وکړئ چې په هغو کې له ساکن نون وروسته دغه د اخفاء حروف ((ص، ض، ط) راغلي وي.

٨- د څلورو کلمو یادونه وکړئ چې په هغو کې له تنوین وروسته دغه د اخفا حروف (ص، ض، ط، ك) راغلي وي.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې له هغو مثالونو پرته چې په ټولګي کې یې لوستي، نورې پنځلس کلمې چې په هغو کې اخفاء راغلې وي، د قرآن کریم د لوستلو پر مهال په کتابچو کې ولیکي او په راتلونکي درسي ساعت کې دې ټولګي ته راوړي؟

## نهم لوست:

# د ساکن میم احکام

### ساکن میم:

هغه میم دی چې سکون یې د وصل په حالت کې ثابت پاتې کېږي.[۱]

ساکن میم درې حکمونه لري:

۱ـ اظهار ۲ـ ادغام ۳ـ اخفاء

### اظهار :

هر کله چې له ساکن میم وروسته د [میم] او [با] له توریو پرته کوم بل حرف راشي، میم اظهارېږي. دغه اظهار، شفوي اظهار بلل کېږي .

یعنې: میم له خپل مخرج څخه په طبیعي ډول او بېله غنې څخه ښکاره ویل کېږي[۲]

شفوي اظهار کله په یوه کلمه او کله په دوو کلمو کې منځ ته راځي.

### د شفوي اظهار مثالونه:

﴿اَلْحَمْدُ لِلهِ﴾، ﴿اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّيْنَ﴾، ﴿اَلَمْ تَرَ﴾ ﴿بِاَمْرِه﴾،

﴿اَلَمّصَ﴾، ﴿اَتَّخَذْناهُمْ سِخْرِيًّا اَمْ زَاغَتْ عَنْهُمُ الْاَبْصَارُ﴾، ﴿اَلَمْ يَرَوْا﴾، ﴿وَاِذْ يَمْكُرُ﴾،

---

۱- هغه بندونه چې په تعریف کې یاد شوي دي ټول احترازي بندونه دی :د ساکن میم )) له بندونو متحرك میم لکه {مَأ آنتَ بِنِعْمَةِ رَبِّك بِمَجْنُونٍ}[القلم: ۲] او میم د{ثُمَّ جَعَلْنَاهُ نُطْفَةً فِي}[المؤمنون: ۱۳] ووتل او ((دثابت پاتې کېږي) له بند څخه هغه ساکن میم چې سکون یې د ساکینو یې د مخامخ کېدوله کبله له منځه تللی وي ووتلو لکه میم د {قُم اللیل}[المزمل: ۲]و {آم ارتابوا}[النور: ۵۰]. ((وصل او وقف په حالت )) د بند له کبله هغه میم چې په عارضي ډول ساکن شوی وي ووتلو لکه میم د {اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ }[الفاتحة: ۲]، {قُمْتُمْ}[المائدة: ٦] {اَمْ لَمْ يُنَبَّاْ بِمَا فِيْ صُحُفِ مُوْسٰى}[النجم: ٣٦].

۲- ځکه چې میم له شفوي حروفو څخه دی.

﴿قُمْ فَانْذِر﴾، ﴿اَمْ لَمْ يُنَبَّاْ﴾، ﴿وَاِذَا خَلَوْا اِلٰى شَيَاطِيْنِهِمْ قَالُوْا اِنَّا مَعَكُم﴾، ﴿وَلَا اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَا اَعْبُدُ لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِىَ دِيْنِ﴾، ﴿اَلَمْ نُهْلِكِ الْاَوَّلِيْنَ﴾، ﴿اِنَّ هٰذَا كَانَ لَكُمْ جَزَاءً﴾، ﴿قُلْ اِنِّىْ لَا اَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَّلَا رَشَدًا﴾، ﴿لَا تَخْفٰى مِنْكُمْ خَافِيَةٌ﴾، ﴿خَاشِعَةً اَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ﴾، ﴿عٰلِيَهُمْ ثِيَابُ سُنْدُسٍ﴾، ﴿ءَاَمِنْتُمْ مَّنْ فِى السَّمَاءِ اَنْ يُّرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا﴾، ﴿وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ اِنَّ اللهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوْتَ مَلِكًا﴾، ﴿فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِه﴾، ﴿فَاَجْمِعُوا اَمْرَكُمْ وَشُرَكَاءَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُنْ اَمْرُكُمْ عَلَيْكُمْ غُمَّةً﴾.[1]

## ادغام

هر کله چې له ساکن میم وروسته بل میم راشي، ادغام را منځته کېږي.

یعني: دواړه میمونه یوشي او د مشدّد میم په ډول له غنې سره لوستل کېږي. کیدای شي دغه ساکن میم په یوه کلمه او یا هم په دوو کلمو کې وي.

## په میم کې د میم د ادغام مثالونه:

﴿الٓمّٓ﴾، ﴿كَمْ مِّنْ فِئَةٍ﴾، ﴿وَلَكُمْ مَّا كَسَبْتُمْ﴾، ﴿اَمْ مَّنْ خَلَقْنَا﴾، ﴿وَّاٰتُوْهُمْ مِّنْ مَّالِ اللهِ الَّذِىْ اٰتٰكُمْ﴾، ﴿كِتَابٍ مُّبِيْنٍ﴾، ﴿مِنْ مُّعَمَّرٍ﴾، ﴿حَمَّالَةَ الْحَطَبِ﴾، ﴿هَمَّ﴾، ﴿عَمَّ﴾.

## شفوي اخفاء

هرکله چې له ساکن میم وروسته د (ب) حرف راشي، هلته اخفاء کېږي. دغې اخفاء ته شفوي اخفاء ویل کېږي.[2]

۱- په پورتنیو مثالونو کې باید غوره طریقې چې د شفوي اظهار ټولو حروفوته بېله (الف، میم، ب)) څخه نورو ټولو مثالونه په ګوته شوي دي.

۲- د شفوي اخفاء اواقلاب د ادا طریقه څرنګه چې د ساکن نون او تنوین د احکامو په بحث کې تیره شوه، یوه ده: هغه دا چې د شونډو وچه خوا له نرمې سره یوځای کېږي او د یوه الف ترکچې ((دوه حرکته)) ادا کېږي. وروسته د شونډو له لوندوالي څخه د (ب) حرف ادا کېږي.

## د شفوي اخفاء مثالونه

﴿اَمْ بِظَاهِرٍ مِّنَ الْقَوْلِ﴾، ﴿فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا اَنْزَلَ اللّٰهُ﴾، ﴿هُمْ بِارِزُوْنَ﴾، ﴿ فَاَخَذْنَاهُمْ بَغْتَةً﴾، ﴿اَنْبِئْهُمْ بِاَسْمَاءِهِمْ﴾.

**تمرين او تطبيق**

زده کوونکي د ې لاندې دوه سوره تونه تمرين کړي، د ميم او مشدد نون احکام(غنه) دې په ګوته او تطبيق کړي.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿إِنَّآ أَعْطَيْنَٰكَ ٱلْكَوْثَرَ ۝١ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَٱنْحَرْ ۝٢ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ ٱلْأَبْتَرُ ۝٣﴾

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ۝١ مَلِكِ ٱلنَّاسِ ۝٢ إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ۝٣ مِن شَرِّ ٱلْوَسْوَاسِ ٱلْخَنَّاسِ ۝٤ ٱلَّذِى يُوَسْوِسُ فِى صُدُورِ ٱلنَّاسِ ۝٥ مِنَ ٱلْجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ ۝٦﴾

**پوښتنې**

۱ـ ساکن ميم تعريف کړئ؟

۲ـ ساکن ميم څوحکمونه لري، يوازې نومونه يې واخلئ؟

۳ـ د شفوي اظهار لپاره دوه مثالونه وړاندې کړئ؟

٤ـ د ساکن ميم د ادغام لپاره درې مثالونه ذکر کړئ؟

۵ـ د شفوي اخفاء لپاره دوه مثالونه ذکر کړئ؟

٦- د شفوي اخفاء او اقلاب ترمنځ توپیر بیان کړئ.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې درې داسې آیتونه په خپلو کتابچو کې ولیکي چې غنه په کې کېږي او په بل درسي ساعت کې دې ټولګي ته راوړي.

## لسم لوست

### د مشدّد میم او نون احکام

هر کله چې میم او نون مشدّد وي، په هغوکې غنه ادا کېږي، یعنې د دوو حرکتونو په کچې پر میم او مشدّد نون ځند وشي او اواز له پزې ووزي.[1]

په دغه حالت کې مشدّد میم او نون ته د (غنی حرف) ویل کېږي.[2]

**د میم او مشدّد نون د غُنې مثالونه**

﴿قِيلَ يَٰنُوحُ ٱهۡبِطۡ بِسَلَٰمٖ مِّنَّا وَبَرَكَٰتٍ عَلَيۡكَ وَعَلَىٰٓ أُمَمٖ مِّمَّن مَّعَكَۚ وَأُمَمٞ سَنُمَتِّعُهُمۡ ثُمَّ يَمَسُّهُم مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٞ﴾، ﴿يَمُنُّوْنَ عَلَيْكَ اَنْ اَسْلَمُوْا قُلْ لَّا تَمُنُّوْا عَلَيَّ اِسْلَامَكُم بَلِ اللهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ اَنْ هَداكُمْ لِلْاِيْمَانِ اِنْ كُنْتُمْ صادِقِيْنَ﴾، ﴿فَغَشِيَهُمْ مِّنَ الْيَمِّ مَا غَشِيَهُم﴾، ﴿وَّاٰتُوْهُمْ مِّنْ مَّالِ اللهِ﴾، ﴿يَٰبُنَيَّ ٱرۡكَب مَّعَنَا وَلَا تَكُن مَّعَ ٱلۡكَٰفِرِينَ﴾

**تمرین او تطبیق**

زده کوونکي د ې لاندې آیتونه تمرین کړي، د ساکن میم حکمونه ( اظهار،ادغام او اخفا) د ې معلوم او تطبیق کړي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿إِنَّآ أَعۡطَيۡنَٰكَ ٱلۡكَوۡثَرَ ۝١ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَٱنۡحَرۡ ۝٢ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ ٱلۡأَبۡتَرُ ۝٣﴾

---

۱- د الف د کچې تر ټولو د ډېرې آسانې طریقې پېژندنه دا ده چې د لاس ګوته بنده او یا پرانستل شي، ولې سمه پېژندنه یې تکره، تجربه کار استاد ځخه په شفاهي ډول زده کړای شي.

۲- د یادونې وړده چې: دغنی حکم نون مشدّد او میم سر بیره په نورو ځایونوکې: لکه ساکن نون او تنوین ادغام په (بیخو ) کې او د نون ساکنه او تنوین اقلاب په ((میم)) کې او په نورو ټولو ځایونو کې اخفاء اداکېږي بیشکه په مشدّده غنه کول د غنی نور ځایونه نه دي او د کیفیت له نظره قوي اداکېږي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ١ مَلِكِ ٱلنَّاسِ ٢ إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ٣
مِن شَرِّ ٱلۡوَسۡوَاسِ ٱلۡخَنَّاسِ ٤ ٱلَّذِي يُوَسۡوِسُ فِي صُدُورِ ٱلنَّاسِ
٥ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ ٦﴾

## پوښتنې

۱ـ میم او مشدد نون څه حکم لري؟ نوم یې واخلئ.

۲- د غنې د اداکولو طریقه بیان کړئ.

۳- که میم او نون مشدد وي، څه نومېږي؟

٤- په مشدد میم کې د غُنې درې مثالونه بیان کړئ.

٥- په مشدد نون کې د غُنې درې مثالونه بیان کړئ.

٦- په لاندې کلموکې چې غنه کېږي، ترې لاندې کرښه وکاږئ.

﴿عَمَّ ﴾﴿عَنِ النَّبَإِ﴾﴿إِنَّآ﴾.

﴿ وَلَا تَكُن مَّعَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴾﴿ قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ﴾﴿قِيلَ يَٰنُوحُ ٱهۡبِطۡ بِسَلَٰمٍ مِّنَّا ﴾

﴿فَغَشِيَهُمْ مِّنَ الْيَمِّ مَا غَشِيَهُم﴾﴿ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ﴾.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې درې آیتونه چې په هغو کې غنه د تطبیق وړ وي، په خپلو کتابچو کې ولیکي او په راتلونکي درسي ساعت کې دې ټولګي ته راوړي.

# د مد احكام (اصلي مد)

مد په لغت كې كش كولو او زياتولو ته وايي.

اوپه اصطلاح كې: د مد په توروكې آواز كش كولو او اوږدولو ته مد وايي .

## د مد توري

د مد توري درې دي: (۱) [الف] ساكن ماقبل يې مفتوح (۲)ساكن [واو] ماقبل يې مضموم (۳) ساكنه [يا] ماقبل يې مكسورلكه﴿نُوْحِيْهَا﴾[1]

## د مد ډولونه

مد لومړى په دوو ډولو ويشل كېږي.

**۱ـ اصلي مد**: هغه مد دى چې د مد حرف په خپل ذات كې د هغه له اداكولو پرته نه اداكېږي او مد هيڅ سبب (همزه اوسكون) ته اړتيا نه لري.

بلكې د دغه مد د اداكولو لپاره د مد د درې گونو تورو (الف ـ واوـ يا) شتون بسنه كوي.

لكه مد د ﴿نُوْحِيْهَا﴾ په كلمه كې.

كه چېرې په ﴿نُوْحِيْهَا﴾ كې اصلي مد ادا نشي، د مد توري (الف ـ واوـ يا) بيخي له منځه ځي او دغه مد ته طبيعي او ذاتي مد هم ويل كېږي[2]

---

۱- ديادونې وړده : فتحه چې د لنډ الف او ضمه معكوس )) او كسره د لنډ الف په شان ليكل شوي وي، دا ټول د مد د تورو حكم لري، ځكه چې كش شوې فتحه په حقيقت كې همغه مد لرونكى الف دى او معكوس ضمه هماغه واو دى او كسره هماغه مد لرونكې يا ده، لكه ﴿ٱلرَّحْمَٰنُ﴾، ﴿اِبْراهيمَ﴾، ﴿اِنَّه﴾، البته لدى قاعدې يوځاى د ﴿مَجْرٖىٰهَا﴾[هود: ٤١] په كلمه كې د امام حفص رح په روايت په بنا مستثنى ده ځكه چې هلته مد لرونكى الف د امالى په ډول لوستل كېږي چې تفصيل به يې وروسته راشي.

۲- اصلي وايي : ځكه چې د مد اصل او ټولو مدونو اساس دى او طبيعي مد هم ورته وايي ځكه ثوك چې د سالم طبيعت څښتن وي، دغه مد تر اصلي كچې ( دوه حركته ) نه كموي اونه يې زياتوي او ذاتي ځكه ورته وايي او فرعي ځكه ورته وايي چې دغه مد فرع د اصلي مد دى، ترڅو چې اصلي مد نه وي، فرعي موجود كيداى نه شي.

د يادونې وړده: چې د مد اسباب په دوه ډوله دى: لفظي او معنوي: لفظي همزه او سكون دى او معنوى په نفى كې مبالغه، كيداى شي دغه نفي د تعظيم لپاره وي اويا مبالغه د الوهيت په نفي كې وي، لكه: {لَااِله اِلَّا اللهُ} [سورة

## د اصلي مد اندازه

اصلي مد د يو الف په اندازه دى او يو الف دوه حركته دى او يو حركت په عادي حالت د لاس د گوتو قاتولو او پرانستلو ته وايي.[1]

## د اصلي مد حكم

په اصلي مد كې تر يو الفه مد كول واجب دى، ځكه: د مد نه كولو په حالت كې حرف له منځه ځي، چې د قرآن كريم د يو حرف د كمېدو لامل كېږي او دې ته جلي لحن ويل كېږي.

## د اصلي مد مثالونه

﴿صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ﴾ ﴿ذَٰلِكَ ٱلْكِتَٰبُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ﴾، ﴿الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ وَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ﴾، ﴿وَٱلْعَصْرِ ١ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَفِي خُسْرٍ ٢ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَتَوَاصَوْاْ بِٱلْحَقِّ وَتَوَاصَوْاْ بِٱلصَّبْرِ ٣﴾ ﴿إِذَا جَآءَ نَصْرُ ٱللَّهِ وَٱلْفَتْحُ ١ وَرَأَيْتَ ٱلنَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ ٱللَّهِ أَفْوَاجًا ٢ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَٱسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُۥ كَانَ تَوَّابَۢا ٣﴾

---

محمد: ١٩]  اوكيداى شي د تبرئي لپاره وي چې ځينو قراوو په هغو تاكيد كړى دى لكه: {لَا رَيْبَ}[البقرة: ٢] ځكه چې د قراوو او مجودينو په وړاندې لفظي سبب يو قوى سبب گڼل كېږي له همدې كبله موږ د لفظي سبب چې همزه اوسكون دي، نوم اخلو او له هغه څخه بحث كوو.

١- دا يوازې تخميني خبره ده او كره پېژندل يې بايد له ماهر او تجربه لرونكي استاد څخه زده شي.

## تمرين او تطبيق

زده کوونکي دې لاندې آيتونه تمرين، اصلي مد او حکم دې بيان کړي.

﴿أَلْهَىٰكُمُ ٱلتَّكَاثُرُ ﴿١﴾ حَتَّىٰ زُرْتُمُ ٱلْمَقَابِرَ ﴿٢﴾ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٣﴾ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ
تَعْلَمُونَ ﴿٤﴾ كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ ٱلْيَقِينِ ﴿٥﴾ لَتَرَوُنَّ ٱلْجَحِيمَ ﴿٦﴾ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا
عَيْنَ ٱلْيَقِينِ ﴿٧﴾ ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٨﴾﴾

﴿أَرَءَيْتَ ٱلَّذِى يُكَذِّبُ بِٱلدِّينِ ﴿١﴾ فَذَٰلِكَ ٱلَّذِى يَدُعُّ ٱلْيَتِيمَ ﴿٢﴾ وَلَا
يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلْمِسْكِينِ ﴿٣﴾ فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ ﴿٤﴾ ٱلَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ
﴿٥﴾ ٱلَّذِينَ هُمْ يُرَآءُونَ ﴿٦﴾ وَيَمْنَعُونَ ٱلْمَاعُونَ ﴿٧﴾﴾

## پوښتنې

١. مد په لغت او اصطلاح کې تعريف کړئ.

٢. د مد توري وښيئ او مثال ورکړئ.

٣. په اصلي مد کې د مد ارزښت بيان کړئ.

٤. د اصلي مد اندازه بيان کړئ.

٥. د اصلي مد حکم څه دی؟

٦. د اصلي مد درې مثالونه بيان کړئ.

۷. په لاندې آيتونو کې اصلي مد وښيئ.

﴿وَالْعَادِيَاتِ ضَبْحًا﴾، ﴿وَإِنَّهُ عَلَى ذَلِكَ لَشَهِيدٌ﴾، ﴿أَفَلَا يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُورِ﴾، ﴿وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْقَارِعَةُ﴾، ﴿يَوْمَ يَكُونُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ﴾، ﴿وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ﴾، ﴿فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ﴾

**کورنی دنده**

زده کوونکي دې درې داسې آيتونه په کتابچو کې وليکي چې اصلي مد پکې راغلی وي او د مد تر کلمو لاندې دې کرښه وکاږي او په بل درسي ساعت کې دې ښوونکي ته وښيي.

## دوولسم لوست

# فرعي مد

هغه مد دی چې شتون یې د اصلي مد د شتون فرعه وي او په هغه کې تر اصلي مد اوږد مد راځي، کله چې د مد له توري څخه وروسته د مد سبب (سکون - همزه) راشي نو فرعي مد کیږي. چې وروسته له هغه څخه د مد د سبب شتون (همزه ـ سکون) اړین دی.

لکه: ﴿أُوْلَٰٓئِكَ﴾، ﴿بِمَآ أُنزِلَ﴾، ﴿فَإِذَا جَآءَتِ ٱلصَّآخَّةُ﴾، ﴿وَبِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ يُوقِنُونَ﴾، ﴿وَلَا ٱلضَّآلِّينَ﴾، ﴿الٓمٓ﴾، ﴿حمٓ﴾، ﴿طسٓمٓ﴾، ﴿مِنۡ خَوۡفٍۭ﴾.

### د فرعي مد ډولونه:

فرعي مد څلور ډوله دی: ۱ـ متصل مد ۲ـ منفصل مد ۳ـ لازم مد ٤ - عارض للسکون مد.[۱]

### متصل مد

هغه مد دی چې سبب یې په هماغه کلمه کې د مد له توري وروسته را شي، لکه:

﴿أُوْلَٰٓئِكَ﴾، ﴿سُوٓءَ﴾ و ﴿سِيٓـَٔتَ﴾.

په پورتنیو کلماتو کې ګورو چې د مد له توري وروسته د مد سبب (همزه) په هماغه کلمه کې متصل راغلی دی. له همدې امله هغه ته متصل مد وايي.

۱- ځینو قاریانو دفرعي مد لپاره دوه نورډولونه بیان کړی او په متن کې له دې کبله ذکر تکراری شول، تر څو په اصلي مد کې داخل نه شي او په لاندنی حاشیه کې یاد شوی.

بدل مد: په داسې ځای کې دی چې د مد له تورو وړاندې همزه واقع شي او هغه همزه په هم جنس حرکت د ماقبل توري بدل شي، لکه: "آآمنوا"، "إإمانا" و "أُأتوا" وه.

د عوض مد: دا په هغه ځای کې دی چې مفتوح تنوین د وقف په حالت کې په الف بدل شوی وي، لکه "نساءً" چې "نساءا" لوستل کیږي.

## د متصل مد (اندازه)

متصل مد د وصل په حالت کې د څلورو نه تر پنځو حرکتونو پورې او د وقف په حالت کې له څلورو نه تر شپږو حرکتونو مد کیږي (غږ کش کیږي)[1]

## د متصل مد حکم

په متصل مد کې د ټولو قاریانو په آند مد کول واجب دي. له همدې کبله دغه مدته واجبي مد هم وايي.

## د متصل مد مثالونه

﴿إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنفَطَرَتۡ﴾، ﴿مَّا شَآءَ﴾، ﴿وَمَا هُمۡ عَنۡهَا بِغَآئِبِينَ﴾، ﴿أُوْلَٰٓئِكَ أَنَّهُم مَّبۡعُوثُونَ﴾، ﴿قَآئِلُونَ﴾، ﴿عَمَّ يَتَسَآءَلُونَ﴾، ﴿حَدَآئِقَ وَأَعۡنَٰبًا﴾، ﴿عَطَآءً حِسَابًا﴾.

## منفصل مد

هغه مد دی چې دمد توری په یوه کلمه او سبب یې په بله کلمه کې وي لکه: ﴿بِمَآ أُنزِلَ﴾، ﴿لَآ أُقۡسِمُ بِهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ﴾ و ﴿وَمَآ أَدۡرَىٰكَ﴾

په پورتنی کلمه کې وینو چې دمد توری ((الف)) په یوه کلمه او سبب یې چې ((همزه)) ده، په بله کلمه کې دی، له همدې کبله ورته منفصل مد(( یوله بل سره جلا مد)) وايي.

---

۱-د یادونې وړ ده چې: د ټولو قاریانو پر وړاندې د متصل مد حرکت له شپږو حرکتونو څخه هیڅکله نه زیاتیږي اوله دریو څخه نه کمیږي (زیات حد یې شپږ حرکته (او لږ حد یې درې حرکته دی.)

## د منفصل مد کچه (اندازه):

په منفصل مد کې د امام حفص (رحمة الله) په آند چې موږ د هغه له روایت سره سم تلاوت کوو له څلورو تر پنځو حرکتونو مد کېږي.

## د منفصل مد حکم

په منفصل مد کې مد کول جواز لري، ځکه له همدې کبله کله قصر (( دوه حرکته لکه اصلي مد)) او کله اوږد (( څلورو حرکتونو ترکچې)) کېږي. له همدې کبله دغه مد د جایز مد په نوم هم یادېږي.

## د منفصل مد مثالونه

﴿فِيٓ أَيِّ صُورَةٖ﴾، ﴿وَمَآ أَدۡرَىٰكَ﴾، ﴿كَلَّآ إِنَّ كِتَٰبَ ٱلۡفُجَّارِ لَفِي سِجِّينٖ﴾،

﴿كَلَّآ إِنَّهَا تَذۡكِرَةٞ﴾، ﴿إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ﴾، ﴿فَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلۡخُنَّسِ﴾، ﴿إِلَىٰٓ أَهۡلِهِمُ﴾.

### تمرین او تطبیق

زده کوونکي دې لاندې سورت تمرین کړي او د متصل او منفصل مد احکام دې پکې تطبیق کړي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿لَآ أُقۡسِمُ بِهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ (١) وَأَنتَ حِلُّۢ بِهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ (٢) وَوَالِدٖ وَمَا وَلَدَ (٣) لَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ فِي
كَبَدٍ (٤) أَيَحۡسَبُ أَن لَّن يَقۡدِرَ عَلَيۡهِ أَحَدٞ (٥) يَقُولُ أَهۡلَكۡتُ مَالٗا لُّبَدًا (٦) أَيَحۡسَبُ أَن لَّمۡ
يَرَهُۥٓ أَحَدٌ (٧) أَلَمۡ نَجۡعَل لَّهُۥ عَيۡنَيۡنِ (٨) وَلِسَانٗا وَشَفَتَيۡنِ (٩) وَهَدَيۡنَٰهُ ٱلنَّجۡدَيۡنِ (١٠) فَلَا ٱقۡتَحَمَ
ٱلۡعَقَبَةَ (١١) وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡعَقَبَةُ (١٢) فَكُّ رَقَبَةٍ (١٣) أَوۡ إِطۡعَٰمٞ فِي يَوۡمٖ ذِي مَسۡغَبَةٖ (١٤) يَتِيمٗا ذَا
مَقۡرَبَةٍ (١٥) أَوۡ مِسۡكِينٗا ذَا مَتۡرَبَةٖ (١٦) ثُمَّ كَانَ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلصَّبۡرِ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلۡمَرۡحَمَةِ
(١٧) أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡمَيۡمَنَةِ (١٨) وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِنَا هُمۡ أَصۡحَٰبُ ٱلۡمَشۡـَٔمَةِ (١٩) عَلَيۡهِمۡ نَارٞ
مُّؤۡصَدَةُۢ (٢٠)﴾

## پوښتنې

١. فرعي مد له اصلي مد سره څه توپير لري؟

٢. د فرعي مد ډولونه وښيئ.

٣. متصل مد او منفصل مد څه توپير لري، مثال ورکړئ.

٤. د متصل او منفصل مد اندازه او حکم ووایئ.

٥- دمتصل مد لپاره څلور مثالونه بیان کړئ.

٦- د منفصل مد لپاره څلور مثالونه بیان کړئ.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې دوه آیتونه په کتابچو کې ولیکي چې په هغو کې متصل او منفصل مدونه راغلي وي.

## لازم مد

هغه مد دی چې سبب یې لازمي سکون وي او په هماغه کلمه کې د وصل او وقف په حالت کې د مد له توري وروسته د تل لپاره یو ځای وي.

### د لازم مد مثالونه:

﴿صٓ﴾ ﴿الٓمٓ﴾ ﴿آلْآنَ﴾ ﴿وَلَا ٱلضَّآلِّينَ﴾.

### عارض للسکون مد

هغه مد دی چې وروسته د مد له توري څخه عارضي سکون واقع شوی وي چې د وقف له امله رامنځته شوی وي او هغه سکون د کلمې په ذات کې نه وي.[1]

### د عارض للسکون مد مثالونه:

﴿يَسْجُدَانْ﴾، ﴿تُكَذِّبَانِ﴾، ﴿مَجنونْ﴾، ﴿فِى رَقٍّ مَنْشُورٍ﴾، ﴿رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾، ﴿نَذِيرٌمُبِينٌ﴾، ﴿هَذَا الْبَيْتِ﴾، ﴿الصَّيْفِ﴾ و ﴿اللَّيْلِ﴾.

#### تمرین او تطبیق

۱- یعني : هر توری چې د مد له توري وروسته راځي په اصل کې متحرک دی، خو موقتاً د وقف له کبله ساکن شوی چې د وصل، سکون او په نتیجه کې کړ له منځه ځي او د مد توري طبعي مد ته راګرځي له همدې کبله دغه مد ته عارض سکون مد وایي.
دلین توري عبارت دی له واو ساکن ما قبل مفتوح- یا ساکن ما قبل مفتوح، لکه (خوف)،( الصیف) ددې مد حکم د عارض سکون مد په شان دي ځکه مو بېل ذکر نه کړ.

زده کوونکي دې لاندې ایتونه تمرین کړي، د لازم او عارض مد احکام دې پکې تطبیق کړي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ الٓمٓ (١) ذَلِكَ الْكِتَابُ لاَ رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ (٢) الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ الصَّلاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ (٣) والَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ وَبِالآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ (٤) أُوْلَـئِكَ عَلَى هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ وَأُوْلَـئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ (٥) ﴾

**پوښتنې**

١. لازم مد تعریف کړئ.

٢. دلازم مد خلور مثالونه بیان کړئ.

٣- عارض للسکون مد تعریف کړئ.

٤- د عارض مد خلور مثالونه بیان کړئ.

٥- په لاندې کلموکې لازم مد تشخیص او تر لاندې کرښه وکاږئ.

﴿وَلَا ٱلضَّآلِّينَ﴾، ﴿الٓمٓ﴾، ﴿حمٓ﴾، ﴿طسٓمٓ﴾، ﴿مِنْ خَوْفٍ﴾.

٦-په لاندې کلموکې عارض مد تشخیص او تر لاندې کرښه وکاږئ.

﴿ٱلرَّحْمَٰنِ(١)عَلَّمَ الْقُرْآنَ(٢)﴾. ﴿يَسْجُدَانِ﴾، ﴿تُكَذِّبَانِ﴾، ﴿مَجْنُونٌ﴾، ﴿فِي رَقٍّ مَنْشُورٍ﴾

**کورنۍ دنده**

زده کوونکي دې دوه آیتونه په کتابچو کې ولیکي چې په هغو کې لازم او عارض للسکون مدونه راغلي وي.

## د تورو مخرجونه

مخرج په لغت کې د وتلو ځای ته وايي.

په اصطلاح کې د تورو د راوتلو او پيدا کېدلو ځای ته مخرج وايي.

د تورو د مخرج د پېژندلو طريقه:

کله چې غواړو د کوم توري مخرج پيدا کړو، لومړی توري ساکن کوو او وروسته ورباندې د وصل همزه د اخلوو او تلفظ کوو يې، هر چېرته چې اواز غوڅ شو، هماغه ځای د توري مخرج دی لکه (اع) له دېنه جوته شوه چې د عين مخرج د ستوني منځ دی.

### د تورو د مخرجونو ډولونه:

په صحيح قول سره د تورو مخرجونه (۱۷) دي چې په پنځو اساسي مخرجونو وېشل شوي، اوس يې په لاندې توګه تشريح کوو.

۱- جوف (د خولې تشه فضا)

له دې مخرجه د مد درې ګونې توري راوځي.

**مدي الف**:(ساکن الف او مخکې يې مفتوح)

**مدي واو**: (ساکن واو او مخکې يې مضموم)

**مدي يا**: (ساکنه يا او مخکې يې مکسور)

لکه {نُوْحِيْهَا}.



**١ د خولې تشه برخه: د مد لرونکي** ((**[واو] [یا] او [الف]**)) **د وتلو ځای دی.**

پاملرنه: شین رنګ د خولې تشه برخه ښيي

## حلق (ستونی)

له دغه مخرج نه شپږ حلقي توري راوځي. د همزه – ها – عین حا – غین – خا چې په لاندې بیت کې شاعر را ټول کړي دي.

حروف حلقي شش بود ای با وفا      همزه و ها، عین، ها، غین و خا

لکه: ﴿الْبَأْسَاءُ﴾، ﴿اِهدِنَا﴾، ﴿يَعْمَهُوْنَ﴾، ﴿الرَّحْمَٰنِ﴾، ﴿الْمَغْضُوْبِ﴾ و ﴿وَمَا يَخْدَعُوْنَ﴾.




**دويم مخرج:** د ستوني وروستۍ برخه د [همزه] او [ها] مخرج

**دريم مخرج:** د ستوني منځنۍ برخه د [ع] او [ح] مخرج

**څلورم مخرج:** د ستوني نږدې برخه د [غ] او [خ] مخرج

## تمرين او تطبيق

زده کوونکي دې لاندې سورة تلاوت کړي، جوفي او حلقي توري دې پکې وپېژني او هغه دې له مخرج څخه د استاد پر وړاندې تلفظ کړي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ وَٱلضُّحَىٰ ١ وَٱلَّيۡلِ إِذَا سَجَىٰ ٢ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ ٣ وَلَلۡأٓخِرَةُ
خَيۡرٞ لَّكَ مِنَ ٱلۡأُولَىٰ ٤ وَلَسَوۡفَ يُعۡطِيكَ رَبُّكَ فَتَرۡضَىٰٓ ٥ أَلَمۡ يَجِدۡكَ
يَتِيمٗا فَـَٔاوَىٰ ٦ وَوَجَدَكَ ضَآلّٗا فَهَدَىٰ ٧ وَوَجَدَكَ عَآئِلٗا فَأَغۡنَىٰ
٨ فَأَمَّا ٱلۡيَتِيمَ فَلَا تَقۡهَرۡ ٩ وَأَمَّا ٱلسَّآئِلَ فَلَا تَنۡهَرۡ ١٠ وَأَمَّا بِنِعۡمَةِ رَبِّكَ
فَحَدِّثۡ ١١ ﴾

## پوښتنې

۱. مخرج تعریف کړئ؟

۲. د تورو مخرج څرنګه پیدا کولای شئ؟

۳. د تورو مخرجونه څو دي او په څو اساسي مخرجونو وېشل کېږي؟ یوازې نوم یې واخلئ.

٤. له جوف (د خولې له تشې) څخه څو توري راوځي؟ له مثال سره یې واضح کړئ.

٥. د حلق ( ستوني) توري څو دي؟ کوم شعر مو چې لوستلی، هغه بیان کړئ.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د هجا توري پخپلو کتابچو کې ولیکي او تر حلقي او جوفي حروفو دې کرښې تاو کړي.

# غاښونه

څرنگه چې غاښونه د حروفو په تلفظ او غږ په رامنځته کولو کې مهم رول لري، نو اړینه ده چې د هغو له نومونو، شمېر او دندو څخه د تجوید په علم کې یادونه وشي.

هر بالغ انسان ۳۲ غاښونه لري، چې ۱٦ غاښونه په پورتنۍ ژامه کې وي او ۱٦ نور یې په لاندنۍ ژامه کې، له دغو ۳۲ غاښونو څخه مخامخ څلورو غاښونو ته (ثنایا)، دوو پورتنیو ته (ثنایا علیا) او دوو لاندینیو ته (ثنایا سفلی) ویل کېږي.

په څنگ کې یې ٤ نور غاښونه دي (چې دوه پورته او دوه کښته دي) چې (رباعیات) یا (قواطع) یې بولي.

د رباعیاتو په څنگ کې ٤ تېره غاښونه دي (چې دوه پورته او دوه کښته دي) چې هغو ته (آنیاب) او یا (کواسر) ویل کېږي.

بیا د آنیابو تر څنگ ٤ نور غاښونه دي (چې دوه پورته او دوه ښکته دي هغو ته (ضواحك) ویل کېږي.

د ضواحکو تر څنگ ۱۲ نور غاښونه (چې شپږ پورتنۍ برخه کې (درې یې په ښي اړخ کې او درې یې په چپ اړخ کې دي) او شپږ په لاندې برخه کې(درې یې په ښي اړخ کې او درې یې په چپ اړخ کې) دغو ټولو ته (طواحن) ویل کېږي.

د طواحنو تر څنګ د خولې وروستۍ برخه کې څلور نو غاښونه چې (دوه پورته او دوه کښته دي) هغو ته (نواجذ) ویل کېږي.

ټولو ۲۰ غاښونو ته چې ضواحك،طواحن،او نواجذ دي (اضراس) ویل کېږي.[۱]

**د غاښونو شکل**




۱- په نومړو نومونو باندې د نومولو وجه : ثنایا د ثنیة جمع ده او دوه ګوني ته ویل کېږي، ځکه چې دا غاښونه په دوو اړخونو کې دوه دوه دي، نو د دې په خاطر ورته ثنایا ویل کېږي، رباعیات د رَبَعِیَّة جمع ده(څلورګوني) او دا څلور غاښونه د ثنایا په څلورو اړخونو کې دي نو له همدې وجې ورته رباعات ویل کېږي، آنیاب د ناب جمع ده(تېغ) ته ویل کېږي ، د تیره والي په خاطر په آنیابو ونومول شول، ضواحك د ضاحكة جمع ده، د خندا پر وقت ددغو غاښونو برملا کېدلو په وجه ورته ضواحك وایې، طواحن د طاحنة جمع ده (ژرنده کول او میده کولو ته وایي) ځکه دا غاښونه د غذا په میده کولو کې زیات رول لري، نو ورته طواحن ویل کېږي، نواجذ د ناجذة جمع ده او نجذ په اصل کې محکم نیولو ته ویل کېږي، ځکه دا غاښونه معمولاً د ۲۰ کلنۍ او د بلوغ او عقل پخیدو نه وروسته راخیژي، نو له همدې وجې ورته نواجذ وایي او په فارسي کې ورته (عقل دندان) وایې او آضراس د ضرس جمع ده، د تېغ لرونکي او میده کوونکي په معنا دی او له همدې وجې ورته آضراس ویل کېږي.

## تمرين او تطبيق

زده کوونکي دې لاندې سورت تمرين کړي او هر توری دې له خپل مخرج څخه د استاد پر وړاندې تلفظ کړي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿أَلۡهَىٰكُمُ ٱلتَّكَاثُرُ ١ حَتَّىٰ زُرۡتُمُ ٱلۡمَقَابِرَ ٢ كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ٣
ثُمَّ كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ٤ كَلَّا لَوۡ تَعۡلَمُونَ عِلۡمَ ٱلۡيَقِينِ ٥ لَتَرَوُنَّ
ٱلۡجَحِيمَ ٦ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيۡنَ ٱلۡيَقِينِ ٧ ثُمَّ لَتُسۡـَٔلُنَّ يَوۡمَئِذٍ عَنِ
ٱلنَّعِيمِ ٨﴾

## پوښتنې

۱. د څه لپاره باید غاښونه وپېژنو؟ د تجوید په علم کې د هغو ارزښت بیان کړئ.

۲. یو بالغ انسان څو غاښونه لري؟نوم یې وخلئ.

۳- ثنایا غاښونه کوم دي؟معلومات ورکړئ.

٤- رباعیات غاښونه کوم دي؟معلومات ورکړئ.

۵. انیاب غاښونه کوم دي؟معلومات ورکړئ.

٦. ضواحك غاښونه کوم دي؟معلومات ورکړئ.

۷. طواحن او نواجذ څه توپیر لري؟ بیان یې کړئ.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د غاښونو د پاکوالي، ساتنې او د حروفو او أوازونو په توليد کې د غاښونو د ارزښت په اړه يوه مقاله وليکي چې تر پنځو کرښو لږه نه وي او په بل درسي ساعت کې دې ټولګي ته راوړي.

## شپاړسم لوست

# د ژبې مخرجونه

ژبه لس مخرجونه لري او له هغو څخه ( ق – ك – ج – ش – غیر مدی ی- ض – ل – ن – ر – ت - ص – ز – س – ظ – ذ او ث را وځي. چې لاندې د هر یوه مثال وړاندې کېږي.

﴿اقْتَرَبَ﴾، ﴿أَهْلَكْتُ﴾، ﴿نَجْعَلْ﴾، ﴿الْمَشْأَمَةِ﴾، ﴿يَوْمَ﴾، ﴿وَالضُّحَى﴾، ﴿وَاللَّيْلِ﴾، ﴿وَالنَّهَارِ﴾، ﴿وَارْتَبْتُمْ﴾، ﴿إِطْعَامٌ﴾، ﴿وَمَا أَدْرَاكَ﴾، ﴿مَتْرَبَةٍ﴾، ﴿وَالْعَصْرِ﴾، ﴿أَزْوَاجًا﴾، ﴿وَالسَّابِحَاتِ﴾، ﴿أَظْلَمَ﴾، ﴿وَإِذْ قَالَ﴾،﴿اثْنَيْنِ﴾.

د ژبې برخې




(د ژبې اړخ)
(د ژبې لاندنۍ برخه)
(د ژبې څوکه)
(د ژبې اړخ)
(شجریا د ژبې منځ)
د ژبې وروستۍ برخه

### د «ق» مخرج:



پنځم مخرج: د «ق» مخرج: د ژبې بېخ او لهات

لکه: ﴿رَزَقْنَهُمْ﴾.

## د «ک» مخرج:



شپږم مخرج: د «ک» مخرج د ژبې بېخ او د کوچنۍ ژبې اړخونه

لکه: ﴿يَكْذِبُوْنَ﴾.

## د «ج، ش او غيرمدّي يا» مخرجونه:



اووم مخرج: د ج، ش، متحرکې يا او د لين يا مخرج: د ژبې منځ او د هغه مقابل تالو

لکه: ﴿اَجْرٌ﴾، ﴿اَشْتَاتًا﴾ و ﴿خَيْرُالْبَرِيَّةِ﴾.

## د «ض» مخرج:



اتم مخرج: د «ض» د تلفظ مخرج: د ژبې اړخ او د پورتنۍ اضراس پنځه غاښونه

لکه: ﴿وَلَا ٱلضَّآلِّينَ﴾.

### د (ل) مخرج:



نهم مخرج: د «لام» مخرج: د ژبې مخکنۍ برخه چې د پورتنیو ثنایا غاښونو له وری، سره ولګیږي

لکه: ﴿الَّذِيْنَ﴾.

### د (ن) مخرج:



لسم مخرج: د «ن» مخرج: د پورتنیو ثنایا، رباعي غاښونو له وریو سره د ژبې د څنډې نښلیدل.

لکه: ﴿اَنْعَمْتَ﴾.

## د (ر) مخرج:




**یوولسم مخرج: د «را» مخرج د ثنایا او رباعي غاښونو له وریو سره د ژبې د لاندنۍ برخې نښلېدل**

لکه: ﴿ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ﴾.

## د (ط،د،ت) مخرج:




**دولسم مخرج: د (ط، د، ت) مخرج: د ژبې څوکه او د پورتنیو ثنایا غاښونو بېخ**

لکه: ﴿الطَّيِّبٰتُ﴾، ﴿وَمَآ أَدۡرَىٰكَ﴾ و ﴿اٰخَّرَتْ﴾.

## د (ظ، ذ، ث) مخرج:




دیارلسم مخرج: د (ظ، ذ، ث) د راوتلو ځای د ژبې څوکه او د پورتنیو ثنایا غاښونو څنډه.

لکه: ﴿وَلَا تُظْلَمُوْنَ﴾، ﴿فَاذْكُرُوْنِيٓ أَذْكُرْكُمْ﴾ و ﴿وَالثَّمَرٰتِ﴾.

## د (ص، ز، س) مخرج:




څوارلسم مخرج: د (ص، ز، س) مخرج: د ژبې څوکه او د لاندنیو غاښونو بېخ

لکه: ﴿فَاصْطَادُوْا﴾، ﴿وَالزَّيْتُوْنِ﴾ و ﴿اَسْفَلَ﴾.

### تمرين او تطبيق

زده کوونکي دې لاندې سورت تمرين کړي او هر توری دې له مخرج څخه د استاد پر وړاندې عملاً تلفظ کړي.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ ٱلْقَارِعَةُ ١ مَا ٱلْقَارِعَةُ ٢ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلْقَارِعَةُ ٣ يَوْمَ
يَكُونُ ٱلنَّاسُ كَٱلْفَرَاشِ ٱلْمَبْثُوثِ ٤ وَتَكُونُ ٱلْجِبَالُ
كَٱلْعِهْنِ ٱلْمَنفُوشِ ٥ فَأَمَّا مَن ثَقُلَتْ مَوَٰزِينُهُۥ ٦ فَهُوَ فِى
عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ ٧ وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَٰزِينُهُۥ ٨ فَأُمُّهُۥ هَاوِيَةٌ
٩ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا هِيَهْ ١٠ نَارٌ حَامِيَةٌۢ ١١ ﴾

### پوښتنې

۱. ژبه څو مخرجونه لري؟ یوازې نوم یې واخلئ.

۲. له ژبې څخه څو توري ادا کېږي؟ بیان یې کړئ.

۳- (ق) او (ك) له کوم ځایه اداء کېږي؟ نوم یې واخلئ.

٤- (ج، ش او غیر مدي ی) له کوم ځایه راوځي؟ مثال ورکړئ.

٥- د (ض)، (د) او (ظ) د مخرجونو تر منځ څه توپیر دی؟

٦- د (ص)، (س) او (ث) د مخرجونو تر منځ څه توپیر دی؟

### کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د هجا توري پخپلو کتابچو کې ولیکي او لساني حرفونه دې له تشخیص وروسته کړۍ کړي او په بل درسي ساعت کې دې ټولګي ته راوړي.

# شفتان او خیشوم

## شفتان(شونډې)

په شونډو کې دوه مخرجونه دي او څلور توري (فا،با،میم،واو) ترېنه ادا کېږي، چې په تفصیل سره بیانېږي.

### د (ف) مخرج:

کله چې د لاندې شونډې منځ د ثنایا علیا غاښونو له سرونو سره یو ځای شي، د(ف) حرف ادا کېږي.



پنځلسم مخرج: د (ف) مخرج: د پورتنیو ثنایا غاښونو څوکه او د لاندنۍ شونډې داخلي برخه ده.

لکه: ﴿اَفْوَاجًا﴾.

## د (ب،م،و) مخرج:

د شونډو په مرسته درې حرفونه (ب، م، مد نه لرونکی واو) اداکېږي، يوازې په دې توپير چې:

د (ب) حرف د دواړو شونډو له لندې برخې څخه اداکېږي، له همدې وجې دېته (بحري) وايي.

د (م) حرف د دواړو شونډو له وچې برخې څخه راوځي، له همدې وجې دېته (بري) وايي.

د (و) حرف د دواړو شونډو د پوره نه يو ځايوالي په نتيجه کې اداکېږي.[1]




شپاړسم مخرج: د (ب، م، متحرک واو او لين) مخرج: دواړې شونډې.

لکه: ﴿تَبَّتۡ يَدَآ أَبِي لَهَبٖ وَتَبَّ﴾، ﴿بِسَلَٰمٖ مِّنَّا﴾.

١- دغو څلورو حرفونو ته (ف ب م و) د دې په خاطر چې شونډې پکې زيات رول لري (شفوي) وايي.

**خیشوم:**

د پزې منځنۍ برخې ته (خیشوم) وايي او کوم آواز چې له هغې څخه بهر ته راځي (غنه) بلل کېږي.

(غنه) په ټولو حالاتو کې يوازې په دوو حرفونو (م) او (ن) کې کېږي.[1]



**اووه لسم مخرج: دغنې مخرج: د پزې فضا.**

لکه: ﴿عَمَّ يَتَسَاءَلُونَ عَنِ النَّبَإِ الْعَظِيمِ﴾ و ﴿أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ﴾.

۱- يعنې سکون، حرکت او تشدید، که څه هم په میم او نون مشدد کې غنه ښه څرګندېږي.

## تمرین او تطبیق

زده کوونکي دې لاندې دوه سورتونه تمرین کړي، شفوي او د خیشوم توري دې وپېژني او هغه دې له مخرج څخه د استاد پر وړاندې تلفظ کړي.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿١﴾ لَآ أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ ﴿٢﴾ وَلَآ أَنتُمْ عَٰبِدُونَ مَآ أَعْبُدُ ﴿٣﴾
وَلَآ أَنَا۠ عَابِدٌ مَّا عَبَدتُّمْ ﴿٤﴾ وَلَآ أَنتُمْ عَٰبِدُونَ مَآ أَعْبُدُ ﴿٥﴾ لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِىَ دِينِ ﴿٦﴾﴾

﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ -وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِى دِينِ اللهِ أَفْوَاجًا-فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا﴾

## پوښتني

۱- له شونډو څو توري اداء کېږي؟ نوم یې واخلئ.

۲- د (ف) او (ب) د مخرجونو تر منځ څه توپیر دی؟

۳- د (م) او (و) د مخرجونو تر منځ څه توپیر دی؟

٤-خیشوم کوم ځای کې موقعیت لري او هغه آواز چې ترې راوځي، څه ورته ویل کیږي؟

٥-غنه څه ته وایي او کوم حروف دغه صفت لري؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د هجا توري پخپلو کتابچو کې ولیکي او شفوی او دغني لرونکو تورو څخه دې کرښه تاو کړي او په بل درسي ساعت کې دې ټولگي ته راوړي.

## د تلاوت ډولونه( تحقيق)

قران کريم په ترتيل سره نازل شوی دی. الله تعالی فرمايي:

﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡلَا نُزِّلَ عَلَيۡهِ ٱلۡقُرۡءَانُ جُمۡلَةٗ وَٰحِدَةٗۚ كَذَٰلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِۦ فُؤَادَكَۖ وَرَتَّلۡنَٰهُ تَرۡتِيلٗا ﴾[۱]

مسلمانان د قرآن کريم د ترتيل په لوستلو سره مامور شوي دي، لکه چې الله تعالی فرمايي:

﴿وَرَتِّلِ ٱلۡقُرۡءَانَ تَرۡتِيلًا﴾[۲] "او قرآن په ترتيل سره (ورو ورو په غور او فکر کولو سره ) ولوله.

ترتيل د تلاوت د ټولو ډولونو روح دی. که هر څومره قرآن کريم په بيړه ولوستل شي، بايد د ترتيل له چوکاټه څخه ونه ايستل شي، نو اړتيا ده چې د ترتيل په معنا سره پوه شو، نو په شرحه کولو يې پيل کوو:

### ترتيل او د هغه ډولونه:

ترتيل په لغت کې تنظيم او ترتيب کولو ته وايي او په اصطلاح کې د تجويد د قاعدو په مراعاتولو او د آيتونو د معنا په پام کې لرلو سره د قرآن کريم لوستلو ته وايي.

۱- کافرانو وويل چې ولې دا قرآن کريم په يو ځلې نه دی نازل شوی؟
دا د دې لپاره چې ستا زړه پرې ثابت او مضبوط وي او په ښه توګه يې پرتا ولولو.
۲- مزمل: ٤

د قرآن کریم د لوستلو پر مهال د (ترتیل) د اصل په ساتلو سره په ګړندي لوستلو د توپیر له نظره په درې ډوله وېشل کېږي.

۱- تحقیق

۲- تدویر

۳- تحدیر، حدر

## تحقیق

په لغت کې حقیقت ته د رسېدلو او له کموالي او زیاتوالي پرته، یو شي د حق پر ځای کولو ته وایي او په اصطلاح کې په آرامۍ او تأنی سره د قرآن کریم لوستلو ته وایي.

یعنې د مد په اشباع، د همزې په تحقیق، د حرکاتو تمامیت، یو له بل څخه د تورو جلا کول او په جایزو ځایونو وقف کول.

**له دې طریقې څخه د ګټې اخیستنې ځای:**

له دې طریقې څخه زده کوونکو ته د قرائت ور زده کولو، د تمرین کولو د زده کړې لپاره د ژبې تمرین (ریاضت)، د تجوید د قواعدو د اداکولو او په هغو قرآئتونو کې چې په ټولنو او غونډو کې ویل کېږي، ګټه اخیستل کېږي.

که څه هم په دغه طریقه کې قرائت لږ کېږي، خو د تورو اداء سمه او صحیح او د آیتونو په معنا کې ډېر فکر او غور کېږي.[1]

۱- باید فکر وکړو چې په تحقیق کې افراط کول لکه بې دلیله ځنډ کول، بې ځایه مدونه او بې اړتیا تکلف کول په لوستلو کې مردود دي له هغه نه باید ځان وساتو.
زده کوونکي کولای شي د تحقیق په طریقه کې د مشهورو قاریانو لکه قاري عبدالباسط، خلیل حصري، حجاج رمضان او... تقلید وکړي.

## تمرين او تطبيق

زده کوونکي دې لاندې سورت د ترتيل د اصل په مراعاتولو سره په ډولګي کې تلاوت کړي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿إِذَا زُلْزِلَتِ ٱلْأَرْضُ زِلْزَالَهَا ﴿١﴾ وَأَخْرَجَتِ ٱلْأَرْضُ أَثْقَالَهَا ﴿٢﴾ وَقَالَ ٱلْإِنسَٰنُ
مَا لَهَا ﴿٣﴾ يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا ﴿٤﴾ بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَىٰ لَهَا ﴿٥﴾ يَوْمَئِذٍ
يَصْدُرُ ٱلنَّاسُ أَشْتَاتًا لِّيُرَوْاْ أَعْمَٰلَهُمْ ﴿٦﴾ فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا
يَرَهُۥ ﴿٧﴾ وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُۥ ﴿٨﴾﴾

## پوښتنې

١. ترتيل په لغت او اصطلاح کې څه ته وايي؟ واضح يې کړئ.

٢. دغه آيت ﴿وَرَتِّلِ ٱلْقُرْءَانَ تَرْتِيلًا﴾ د څه حکم افاده کوي؟ واضح يې کړئ.

٣- ترتيل په څو ډوله دي؟ نمونه يې واخلئ.

٤. تحقيق کومه طريقه ده؟ معلومات ورکړئ.

٥. د تحقيق له طريقې نه په کومو ځايونو کې ډېره ګټه اخيستل کېږي؟ واضح يې کړئ.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د حشر سورت اووه وروستي آيتونه د تحقيق د طريقې پر اساس وتاکي او په را تلونکې درسي ساعت کې دې د ښوونکي او ټولګيوالو پر وړاندې په هماغه طريقه تلاوت کړي.[1]

يادونه: زده کوونکي د حشر د سورت (۷) وروستي آيتونه د تمرين کولو لپاره: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلۡتَنظُرۡ نَفۡسٞ
مَّا قَدَّمَتۡ لِغَدٖۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ۝١٨ وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ نَسُواْ ٱللَّهَ فَأَنسَىٰهُمۡ أَنفُسَهُمۡۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ۝١٩ لَا يَسۡتَوِيٓ
أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِ وَأَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۚ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ ۝٢٠ لَوۡ أَنزَلۡنَا هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ عَلَىٰ جَبَلٖ لَّرَأَيۡتَهُۥ خَٰشِعٗا مُّتَصَدِّعٗا مِّنۡ خَشۡيَةِ ٱللَّهِۚ
وَتِلۡكَ ٱلۡأَمۡثَٰلُ نَضۡرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ ۝٢١ هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِۖ هُوَ ٱلرَّحۡمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ ۝٢٢ هُوَ
ٱللَّهُ ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡقُدُّوسُ ٱلسَّلَٰمُ ٱلۡمُؤۡمِنُ ٱلۡمُهَيۡمِنُ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡجَبَّارُ ٱلۡمُتَكَبِّرُۚ سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشۡرِكُونَ
۝٢٣ هُوَ ٱللَّهُ ٱلۡخَٰلِقُ ٱلۡبَارِئُ ٱلۡمُصَوِّرُۖ لَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ۝٢٤ ﴾ کولای شي د
مشهورو قاريانو لکه قاري عبدالباسط، خليل حصرى، حجاج رمضان، قاري برکت الله سليم او محمود شهات له طريقې څخه په پورتنيو آياتونو کې تقليد وکړي.

# تدویر او تحدیر

## تدویر

په لغت کې د را ټولولو او تاوولو په معنا او په اصطلاح کې په متوسطه توګه د قرآن کریم لوستلو ته وایي.

یعنې نه د تحقیق او نه د تحدیر د لوستلو په شان، بلکې د تحقیق او تحدیر ترمنځ لوستل.

## له دې طریقې څخه د ګټې اخیستنې ځای

د تدویر له طریقې څخه په پنځو لمونځونو کې ګټه اخیستل کېږي، په دې طریقه کې د تحقیق په پرتله ډېر قرائت کېږي او دا لدې کبله چې دا منځنۍ او متوسطه طریقه ده او د (خیرالامور اوسطها) له کبله دغه طریقه ډېرو قاریانو او د تجوید علماوو غوره کړې ده.

## تحدير

په لغت کې د ځوړ او مایلوالي په معنا دی او په اصطلاح کې په ډېره ګړندۍ توګه د قرآن کریم تلاوت ته وایي.

باید په پام کې ولرو چې په حدر سره قرائت کول ددې معنا نه لري چې د تجوید حکمونه پکې نه مراعاتیږي، بلکې هدف یې د تحقیق او تدویر په پرتله ګړندي لوستل دي.

## له دې طریقې څخه د ګټې اخیستنې ځای:

له دغې طریقې څخه په ورځني تلاوت او د تراویحو په لمانځه کې ګټه اخیستل کیږي.

د یادونې وړ ده چې د حدر طریقه داسې کسانو ته توصیه کیږي چې قرآن شریف ښه لوستلای شي، د قرآن په ګړندی لوستلو کې ترینه کلمات او توري نه ضایع کیږي.

دویم په عین ګړندي لوستلو کې د قرآن د آیاتونو په معنا کې فکر او غور کولای شي او غواړي چې په ډېرو لوستلو ډېر ثواب لاسته راوړي، خو هغه کسان چې په ابتدایي مرحله کې دي او دګړندي لوستلو پر مهال ښه اداء او په معنا کې فکر نه شي کولای، له دوو مخکنیو طریقو دې ګټه واخلي او په حدر دې تلاوت نه کوي.

## تمرين او تطبيق

زده کوونکي دې لاندې سورت د ترتيل په پام کې نيولو سره د تدوير او تحدير په طريقو سره په ټولګي کې د استاد پر وړاندې عملاً تلاوت کړي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ٣
مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ٤ إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ٥ ٱهۡدِنَا
ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ٦ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ
عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ٧ ﴾

## پوښتنې

۱- تدوير په لغت او اصطلاح کې څه ته وايي؟ واضح يې کړئ.

۲- د تدوير له طريقې نه په کومو ځايونو کې ډېره ګټه اخيستل کېږي؟ واضح يې کړئ.

۳- تحدير په لغت او اصطلاح کې څه ته وايي؟ واضح يې کړئ.

٤- د تحدير له طريقې نه په کومو ځايونو کې ډېره ګټه اخيستل کېږي؟ واضح يې کړئ.

۵- ترتيل د تحقيق، تدوير او تحدير له طريقو سره څه اړه لري؟ واضح يې کړئ.

## کورنۍ دنده

ښوونکی دې زده کوونکي په دوو ډلو وویشي، دواړه ډلې دې د بقره سورت وروستي دوه آیتونه وټاکي، د الف ګروپ دې په تدویر او د ب ګروپ دې د حدر په طریقه مشق وکړي او هر ګروپ دې په را تلونکې درسي ساعت کې د ښوونکې او ټولګیوالو پر وړاندې په هماغه طریقه تلاوت کړي.[۱]

---

یادونه: زده کوونکي د بقره د سورت (۲) وروستي آیتونو﴿ آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللّهِ وَمَلآئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لاَ نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِ وَقَالُواْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ (۲۸۵) لاَ يُكَلِّفُ اللّهُ نَفْسًا إِلاَّ وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ رَبَّنَا لاَ تُؤَاخِذْنَا إِن نَّسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا رَبَّنَا وَلاَ تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلاَ تُحَمِّلْنَا مَا لاَ طَاقَةَ لَنَا بِهِ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَآ أَنتَ مَوْلاَنَا فَانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ (۲۸٦)﴾ د تمرین لپاره کولای شي د مشهورو قاریانو لکه: قاري عبدالباسط، عبدالرحمن حذیفي، محمد ایوب، سعد الغامدي، عبدالرحمن سدیس، ماهر المعیقلی او برکت الله سلیم له قرائتونو تقلید وکړي.

# د اووم ټولګي د حفظ د مقررې برخه(۱)

په اووم ټولګي کې د دېرشمې سپارې وروستۍ نیمه برخه د حفظ لپاره ټاکل شوې ده، ښوونکی دې له درسي ساعتونو سره سم قرائت، د آیتونو حفظ او ورځخه ځانګړی سورت تعین کړي، تر څو د حفظ مقرره بشپړه شي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# سورة الفجر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلۡفَجۡرِ ﴿١﴾ وَلَيَالٍ عَشۡرٖ ﴿٢﴾ وَٱلشَّفۡعِ وَٱلۡوَتۡرِ ﴿٣﴾ وَٱلَّيۡلِ إِذَا يَسۡرِ ﴿٤﴾ هَلۡ
فِي ذَٰلِكَ قَسَمٞ لِّذِي حِجۡرٍ ﴿٥﴾ أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ ﴿٦﴾ إِرَمَ ذَاتِ ٱلۡعِمَادِ
﴿٧﴾ ٱلَّتِي لَمۡ يُخۡلَقۡ مِثۡلُهَا فِي ٱلۡبِلَٰدِ ﴿٨﴾ وَثَمُودَ ٱلَّذِينَ جَابُواْ ٱلصَّخۡرَ بِٱلۡوَادِ ﴿٩﴾
وَفِرۡعَوۡنَ ذِي ٱلۡأَوۡتَادِ ﴿١٠﴾ ٱلَّذِينَ طَغَوۡاْ فِي ٱلۡبِلَٰدِ ﴿١١﴾ فَأَكۡثَرُواْ فِيهَا ٱلۡفَسَادَ ﴿١٢﴾
فَصَبَّ عَلَيۡهِمۡ رَبُّكَ سَوۡطَ عَذَابٍ ﴿١٣﴾ إِنَّ رَبَّكَ لَبِٱلۡمِرۡصَادِ ﴿١٤﴾ فَأَمَّا ٱلۡإِنسَٰنُ
إِذَا مَا ٱبۡتَلَىٰهُ رَبُّهُۥ فَأَكۡرَمَهُۥ وَنَعَّمَهُۥ فَيَقُولُ رَبِّيٓ أَكۡرَمَنِ ﴿١٥﴾ وَأَمَّآ إِذَا مَا ٱبۡتَلَىٰهُ
فَقَدَرَ عَلَيۡهِ رِزۡقَهُۥ فَيَقُولُ رَبِّيٓ أَهَٰنَنِ ﴿١٦﴾ كَلَّاۖ بَل لَّا تُكۡرِمُونَ ٱلۡيَتِيمَ ﴿١٧﴾ وَلَا
تَحَٰٓضُّونَ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلۡمِسۡكِينِ ﴿١٨﴾ وَتَأۡكُلُونَ ٱلتُّرَاثَ أَكۡلٗا لَّمّٗا
﴿١٩﴾ وَتُحِبُّونَ ٱلۡمَالَ حُبّٗا جَمّٗا ﴿٢٠﴾ كَلَّآ إِذَا دُكَّتِ ٱلۡأَرۡضُ دَكّٗا دَكّٗا ﴿٢١﴾
وَجَآءَ رَبُّكَ وَٱلۡمَلَكُ صَفّٗا صَفّٗا ﴿٢٢﴾ وَجِاْيٓءَ يَوۡمَئِذِۭ بِجَهَنَّمَۚ يَوۡمَئِذٖ يَتَذَكَّرُ
ٱلۡإِنسَٰنُ وَأَنَّىٰ لَهُ ٱلذِّكۡرَىٰ ﴿٢٣﴾ يَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي قَدَّمۡتُ لِحَيَاتِي ﴿٢٤﴾ فَيَوۡمَئِذٖ لَّا
يُعَذِّبُ عَذَابَهُۥٓ أَحَدٞ ﴿٢٥﴾ وَلَا يُوثِقُ وَثَاقَهُۥٓ أَحَدٞ ﴿٢٦﴾ يَٰٓأَيَّتُهَا ٱلنَّفۡسُ ٱلۡمُطۡمَئِنَّةُ ﴿٢٧﴾
ٱرۡجِعِيٓ إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةٗ مَّرۡضِيَّةٗ ﴿٢٨﴾ فَٱدۡخُلِي فِي عِبَٰدِي ﴿٢٩﴾ وَٱدۡخُلِي جَنَّتِي ﴿٣٠﴾

## سورة البلد

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿لَآ أُقۡسِمُ بِهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ ١ وَأَنتَ حِلُّۢ بِهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ ٢ وَوَالِدٖ وَمَا وَلَدَ ٣ لَقَدۡ
خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ فِي كَبَدٍ ٤ أَيَحۡسَبُ أَن لَّن يَقۡدِرَ عَلَيۡهِ أَحَدٞ ٥ يَقُولُ أَهۡلَكۡتُ
مَالٗا لُّبَدًا ٦ أَيَحۡسَبُ أَن لَّمۡ يَرَهُۥٓ أَحَدٌ ٧ أَلَمۡ نَجۡعَل لَّهُۥ عَيۡنَيۡنِ ٨ وَلِسَانٗا
وَشَفَتَيۡنِ ٩ وَهَدَيۡنَٰهُ ٱلنَّجۡدَيۡنِ ١٠ فَلَا ٱقۡتَحَمَ ٱلۡعَقَبَةَ ١١ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا
ٱلۡعَقَبَةُ ١٢ فَكُّ رَقَبَةٍ ١٣ أَوۡ إِطۡعَٰمٞ فِي يَوۡمٖ ذِي مَسۡغَبَةٖ ١٤ يَتِيمٗا ذَا مَقۡرَبَةٍ
١٥ أَوۡ مِسۡكِينٗا ذَا مَتۡرَبَةٖ ١٦ ثُمَّ كَانَ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلصَّبۡرِ وَتَوَاصَوۡاْ
بِٱلۡمَرۡحَمَةِ ١٧ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡمَيۡمَنَةِ ١٨ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِنَا هُمۡ أَصۡحَٰبُ
ٱلۡمَشۡـَٔمَةِ ١٩ عَلَيۡهِمۡ نَارٞ مُّؤۡصَدَةُۢ ٢٠﴾

## سورة الشمس

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿وَٱلشَّمۡسِ وَضُحَىٰهَا ١ وَٱلۡقَمَرِ إِذَا تَلَىٰهَا ٢ وَٱلنَّهَارِ إِذَا جَلَّىٰهَا ٣ وَٱلَّيۡلِ إِذَا
يَغۡشَىٰهَا ٤ وَٱلسَّمَآءِ وَمَا بَنَىٰهَا ٥ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا طَحَىٰهَا ٦ وَنَفۡسٖ وَمَا سَوَّىٰهَا
٧ فَأَلۡهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقۡوَىٰهَا ٨ قَدۡ أَفۡلَحَ مَن زَكَّىٰهَا ٩ وَقَدۡ خَابَ مَن

دَسَّىٰهَا ﴿١٠﴾ كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِطَغْوَىٰهَآ ﴿١١﴾ إِذِ ٱنۢبَعَثَ أَشْقَىٰهَا ﴿١٢﴾ فَقَالَ
لَهُمْ رَسُولُ ٱللَّهِ نَاقَةَ ٱللَّهِ وَسُقْيَٰهَا ﴿١٣﴾ فَكَذَّبُوهُ فَعَقَرُوهَا فَدَمْدَمَ
عَلَيْهِمْ رَبُّهُم بِذَنۢبِهِمْ فَسَوَّىٰهَا ﴿١٤﴾ وَلَا يَخَافُ عُقْبَٰهَا ﴿١٥﴾

## سورة الليل

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلَّيْلِ إِذَا يَغْشَىٰ ﴿١﴾ وَٱلنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّىٰ ﴿٢﴾ وَمَا خَلَقَ ٱلذَّكَرَ وَٱلْأُنثَىٰٓ ﴿٣﴾ إِنَّ سَعْيَكُمْ
لَشَتَّىٰ ﴿٤﴾ فَأَمَّا مَنْ أَعْطَىٰ وَٱتَّقَىٰ ﴿٥﴾ وَصَدَّقَ بِٱلْحُسْنَىٰ ﴿٦﴾ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلْيُسْرَىٰ ﴿٧﴾
وَأَمَّا مَنۢ بَخِلَ وَٱسْتَغْنَىٰ ﴿٨﴾ وَكَذَّبَ بِٱلْحُسْنَىٰ ﴿٩﴾ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلْعُسْرَىٰ ﴿١٠﴾ وَمَا يُغْنِى
عَنْهُ مَالُهُۥٓ إِذَا تَرَدَّىٰٓ ﴿١١﴾ إِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدَىٰ ﴿١٢﴾ وَإِنَّ لَنَا لَلْءَاخِرَةَ وَٱلْأُولَىٰ ﴿١٣﴾ فَأَنذَرْتُكُمْ
نَارًا تَلَظَّىٰ ﴿١٤﴾ لَا يَصْلَىٰهَآ إِلَّا ٱلْأَشْقَى ﴿١٥﴾ ٱلَّذِى كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿١٦﴾ وَسَيُجَنَّبُهَا
ٱلْأَتْقَى ﴿١٧﴾ ٱلَّذِى يُؤْتِى مَالَهُۥ يَتَزَكَّىٰ ﴿١٨﴾ وَمَا لِأَحَدٍ عِندَهُۥ مِن نِّعْمَةٍ تُجْزَىٰٓ ﴿١٩﴾ إِلَّا
ٱبْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِ ٱلْأَعْلَىٰ ﴿٢٠﴾ وَلَسَوْفَ يَرْضَىٰ ﴿٢١﴾

## سورة الضحى

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلضُّحَىٰ ﴿١﴾ وَٱلَّيْلِ إِذَا سَجَىٰ ﴿٢﴾ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ ﴿٣﴾ وَلَلْءَاخِرَةُ
خَيْرٌ لَّكَ مِنَ ٱلْأُولَىٰ ﴿٤﴾ وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰٓ ﴿٥﴾ أَلَمْ يَجِدْكَ
يَتِيمًا فَـَٔاوَىٰ ﴿٦﴾ وَوَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدَىٰ ﴿٧﴾ وَوَجَدَكَ عَآئِلًا فَأَغْنَىٰ

﴿٨﴾ فَأَمَّا ٱلۡيَتِيمَ فَلَا تَقۡهَرۡ ﴿٩﴾ وَأَمَّا ٱلسَّآئِلَ فَلَا تَنۡهَرۡ ﴿١٠﴾ وَأَمَّا بِنِعۡمَةِ رَبِّكَ
فَحَدِّثۡ ﴿١١﴾

## سورة الشرح

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿أَلَمۡ نَشۡرَحۡ لَكَ صَدۡرَكَ ﴿١﴾ وَوَضَعۡنَا عَنكَ وِزۡرَكَ ﴿٢﴾ ٱلَّذِيٓ أَنقَضَ ظَهۡرَكَ
﴿٣﴾ وَرَفَعۡنَا لَكَ ذِكۡرَكَ ﴿٤﴾ فَإِنَّ مَعَ ٱلۡعُسۡرِ يُسۡرًا ﴿٥﴾ إِنَّ مَعَ ٱلۡعُسۡرِ يُسۡرًا ﴿٦﴾ فَإِذَا فَرَغۡتَ
فَٱنصَبۡ ﴿٧﴾ وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَٱرۡغَب ﴿٨﴾

## سورة التين

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿وَٱلتِّينِ وَٱلزَّيۡتُونِ ﴿١﴾ وَطُورِ سِينِينَ ﴿٢﴾ وَهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ ٱلۡأَمِينِ ﴿٣﴾ لَقَدۡ خَلَقۡنَا
ٱلۡإِنسَٰنَ فِيٓ أَحۡسَنِ تَقۡوِيمٖ ﴿٤﴾ ثُمَّ رَدَدۡنَٰهُ أَسۡفَلَ سَٰفِلِينَ ﴿٥﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَلَهُمۡ أَجۡرٌ غَيۡرُ مَمۡنُونٖ ﴿٦﴾ فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعۡدُ بِٱلدِّينِ ﴿٧﴾ أَلَيۡسَ
ٱللَّهُ بِأَحۡكَمِ ٱلۡحَٰكِمِينَ ﴿٨﴾

## سورة العلق

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ ١ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ ٢ ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ ٣
ٱلَّذِي عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ ٤ عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ ٥ كَلَّآ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَيَطۡغَىٰٓ ٦ أَن رَّءَاهُ
ٱسۡتَغۡنَىٰٓ ٧ إِنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ ٱلرُّجۡعَىٰٓ ٨ أَرَءَيۡتَ ٱلَّذِي يَنۡهَىٰ ٩ عَبۡدًا إِذَا صَلَّىٰٓ ١٠ أَرَءَيۡتَ
إِن كَانَ عَلَى ٱلۡهُدَىٰٓ ١١ أَوۡ أَمَرَ بِٱلتَّقۡوَىٰٓ ١٢ أَرَءَيۡتَ إِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰٓ ١٣ أَلَمۡ يَعۡلَم بِأَنَّ ٱللَّهَ
يَرَىٰ ١٤ كَلَّا لَئِن لَّمۡ يَنتَهِ لَنَسۡفَعَۢا بِٱلنَّاصِيَةِ ١٥ نَاصِيَةٖ كَٰذِبَةٍ خَاطِئَةٖ ١٦ فَلۡيَدۡعُ نَادِيَهُۥ
١٧ سَنَدۡعُ ٱلزَّبَانِيَةَ ١٨ كَلَّا لَا تُطِعۡهُ وَٱسۡجُدۡ وَٱقۡتَرِب ۩ ١٩ ﴾

## سورة القدر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةِ ٱلۡقَدۡرِ ١ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ ٢ لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ
خَيۡرٞ مِّنۡ أَلۡفِ شَهۡرٖ ٣ تَنَزَّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ فِيهَا بِإِذۡنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمۡرٖ
٤ سَلَٰمٌ هِيَ حَتَّىٰ مَطۡلَعِ ٱلۡفَجۡرِ ٥ ﴾

## سورة البينة

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿لَمۡ يَكُنِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ مُنفَكِّينَ حَتَّىٰ تَأۡتِيَهُمُ ٱلۡبَيِّنَةُ
﴿١﴾ رَسُولٞ مِّنَ ٱللَّهِ يَتۡلُواْ صُحُفٗا مُّطَهَّرَةٗ ﴿٢﴾ فِيهَا كُتُبٞ قَيِّمَةٞ ﴿٣﴾ وَمَا تَفَرَّقَ
ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُمُ ٱلۡبَيِّنَةُ ﴿٤﴾ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ
ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ وَيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُواْ ٱلزَّكَوٰةَۚ وَذَٰلِكَ دِينُ ٱلۡقَيِّمَةِ
﴿٥﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآۚ
أُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ شَرُّ ٱلۡبَرِيَّةِ ﴿٦﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ
خَيۡرُ ٱلۡبَرِيَّةِ ﴿٧﴾ جَزَآؤُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ
فِيهَآ أَبَدٗاۖ رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُۚ ذَٰلِكَ لِمَنۡ خَشِيَ رَبَّهُۥ ﴿٨﴾﴾

## سورة الزلزلة

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿إِذَا زُلۡزِلَتِ ٱلۡأَرۡضُ زِلۡزَالَهَا ﴿١﴾ وَأَخۡرَجَتِ ٱلۡأَرۡضُ أَثۡقَالَهَا ﴿٢﴾ وَقَالَ ٱلۡإِنسَٰنُ
مَا لَهَا ﴿٣﴾ يَوۡمَئِذٖ تُحَدِّثُ أَخۡبَارَهَا ﴿٤﴾ بِأَنَّ رَبَّكَ أَوۡحَىٰ لَهَا ﴿٥﴾ يَوۡمَئِذٖ
يَصۡدُرُ ٱلنَّاسُ أَشۡتَاتٗا لِّيُرَوۡاْ أَعۡمَٰلَهُمۡ ﴿٦﴾ فَمَن يَعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٍ خَيۡرٗا
يَرَهُۥ ﴿٧﴾ وَمَن يَعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖ شَرّٗا يَرَهُۥ ﴿٨﴾﴾

## سورة العاديات

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿وَٱلۡعَٰدِيَٰتِ ضَبۡحٗا ١ فَٱلۡمُورِيَٰتِ قَدۡحٗا ٢ فَٱلۡمُغِيرَٰتِ صُبۡحٗا ٣ فَأَثَرۡنَ بِهِۦ
نَقۡعٗا ٤ فَوَسَطۡنَ بِهِۦ جَمۡعًا ٥ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لِرَبِّهِۦ لَكَنُودٞ ٦ وَإِنَّهُۥ عَلَىٰ
ذَٰلِكَ لَشَهِيدٞ ٧ وَإِنَّهُۥ لِحُبِّ ٱلۡخَيۡرِ لَشَدِيدٌ ٨ ۞ أَفَلَا يَعۡلَمُ إِذَا بُعۡثِرَ مَا
فِي ٱلۡقُبُورِ ٩ وَحُصِّلَ مَا فِي ٱلصُّدُورِ ١٠ إِنَّ رَبَّهُم بِهِمۡ يَوۡمَئِذٖ لَّخَبِيرُۢ ١١﴾

## سورة القارعة

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ٱلۡقَارِعَةُ ١ مَا ٱلۡقَارِعَةُ ٢ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡقَارِعَةُ ٣ يَوۡمَ
يَكُونُ ٱلنَّاسُ كَٱلۡفَرَاشِ ٱلۡمَبۡثُوثِ ٤ وَتَكُونُ ٱلۡجِبَالُ
كَٱلۡعِهۡنِ ٱلۡمَنفُوشِ ٥ فَأَمَّا مَن ثَقُلَتۡ مَوَٰزِينُهُۥ ٦ فَهُوَ فِي
عِيشَةٖ رَّاضِيَةٖ ٧ وَأَمَّا مَنۡ خَفَّتۡ مَوَٰزِينُهُۥ ٨ فَأُمُّهُۥ هَاوِيَةٞ
٩ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا هِيَهۡ ١٠ نَارٌ حَامِيَةُۢ ١١﴾

## سورة التكاثر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿أَلۡهَىٰكُمُ ٱلتَّكَاثُرُ ١ حَتَّىٰ زُرۡتُمُ ٱلۡمَقَابِرَ ٢ كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ٣
ثُمَّ كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ٤ كَلَّا لَوۡ تَعۡلَمُونَ عِلۡمَ ٱلۡيَقِينِ ٥ لَتَرَوُنَّ
ٱلۡجَحِيمَ ٦ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيۡنَ ٱلۡيَقِينِ ٧ ثُمَّ لَتُسۡـَٔلُنَّ يَوۡمَئِذٍ عَنِ
ٱلنَّعِيمِ ٨﴾

## سورة العصر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿وَٱلۡعَصۡرِ ١ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَفِي خُسۡرٍ ٢ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ
ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلۡحَقِّ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلصَّبۡرِ ٣﴾

## سورة الهمزة

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿وَيۡلٞ لِّكُلِّ هُمَزَةٖ لُّمَزَةٍ ١ ٱلَّذِي جَمَعَ مَالٗا وَعَدَّدَهُۥ ٢ يَحۡسَبُ أَنَّ
مَالَهُۥٓ أَخۡلَدَهُۥ ٣ كَلَّاۖ لَيُنۢبَذَنَّ فِي ٱلۡحُطَمَةِ ٤ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡحُطَمَةُ ٥
نَارُ ٱللَّهِ ٱلۡمُوقَدَةُ ٦ ٱلَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى ٱلۡأَفۡـِٔدَةِ ٧ إِنَّهَا عَلَيۡهِم مُّؤۡصَدَةٞ ٨
فِي عَمَدٖ مُّمَدَّدَةِۭ ٩﴾

## سورة الفيل

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصۡحَٰبِ ٱلۡفِيلِ ١ أَلَمۡ يَجۡعَلۡ كَيۡدَهُمۡ فِي تَضۡلِيلٖ
٢ وَأَرۡسَلَ عَلَيۡهِمۡ طَيۡرًا أَبَابِيلَ ٣ تَرۡمِيهِم بِحِجَارَةٖ مِّن سِجِّيلٖ ٤
فَجَعَلَهُمۡ كَعَصۡفٖ مَّأۡكُولِۭ ٥﴾

## سورة قريش

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿لِإِيلَٰفِ قُرَيۡشٍ ١ إِۦلَٰفِهِمۡ رِحۡلَةَ ٱلشِّتَآءِ وَٱلصَّيۡفِ ٢
فَلۡيَعۡبُدُواْ رَبَّ هَٰذَا ٱلۡبَيۡتِ ٣ ٱلَّذِيٓ أَطۡعَمَهُم مِّن جُوعٖ وَءَامَنَهُم
مِّنۡ خَوۡفِۭ ٤﴾

## سورة الماعون

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿أَرَءَيۡتَ ٱلَّذِي يُكَذِّبُ بِٱلدِّينِ ١ فَذَٰلِكَ ٱلَّذِي يَدُعُّ ٱلۡيَتِيمَ
٢ وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلۡمِسۡكِينِ ٣ فَوَيۡلٞ لِّلۡمُصَلِّينَ ٤ ٱلَّذِينَ
هُمۡ عَن صَلَاتِهِمۡ سَاهُونَ ٥ ٱلَّذِينَ هُمۡ يُرَآءُونَ ٦ وَيَمۡنَعُونَ
ٱلۡمَاعُونَ ٧﴾

## سورة الكوثر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿إِنَّآ أَعۡطَيۡنَٰكَ ٱلۡكَوۡثَرَ ١ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَٱنۡحَرۡ ٢ إِنَّ شَانِئَكَ
هُوَ ٱلۡأَبۡتَرُ ٣﴾

## سورة الكافرون

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡكَٰفِرُونَ ١ لَآ أَعۡبُدُ مَا تَعۡبُدُونَ ٢ وَلَآ أَنتُمۡ
عَٰبِدُونَ مَآ أَعۡبُدُ ٣ وَلَآ أَنَا۠ عَابِدٞ مَّا عَبَدتُّمۡ ٤ وَلَآ أَنتُمۡ عَٰبِدُونَ مَآ أَعۡبُدُ
٥ لَكُمۡ دِينُكُمۡ وَلِيَ دِينِ ٦﴾

## سورة النصر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿إِذَا جَآءَ نَصۡرُ ٱللَّهِ وَٱلۡفَتۡحُ ١ وَرَأَيۡتَ ٱلنَّاسَ يَدۡخُلُونَ
فِي دِينِ ٱللَّهِ أَفۡوَاجٗا ٢ فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ وَٱسۡتَغۡفِرۡهُۚ إِنَّهُۥ كَانَ
تَوَّابَۢا ٣﴾

## سورة المسد

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ تَبَّتۡ يَدَآ أَبِي لَهَبٖ وَتَبَّ ١ مَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُ مَالُهُۥ وَمَا كَسَبَ
٢ سَيَصۡلَىٰ نَارٗا ذَاتَ لَهَبٖ ٣ وَٱمۡرَأَتُهُۥ حَمَّالَةَ ٱلۡحَطَبِ ٤ فِي
جِيدِهَا حَبۡلٞ مِّن مَّسَدِۭ ٥ ﴾

## سورة الإخلاص

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ١ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ٢ لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ
٣ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ ٤ ﴾

## سورة الفلق

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ ١ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ٢ وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا
وَقَبَ ٣ وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلۡعُقَدِ ٤ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ
إِذَا حَسَدَ ٥ ﴾

## سورة الناس

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ١ مَلِكِ ٱلنَّاسِ ٢ إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ٣
مِن شَرِّ ٱلۡوَسۡوَاسِ ٱلۡخَنَّاسِ ٤ ٱلَّذِي يُوَسۡوِسُ فِي صُدُورِ ٱلنَّاسِ
٥ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ ٦﴾